# د ایوب کتاب

## د کتاب پېژندنه

د ایوب کتاب د ایوب په نوم د یو بېګناه سړي د کړاوونو او مصیبتونو په هکله کیسه کوي او په شعر کې ویل شوی دی. کړاوونه او مصیبتونه په دې نړۍ کې د هر انسان د ژوند یوه برخه ده. هرڅوک چې کله د کړاوونو او مصیبتونو سره مخ شي، نو خامخا د هغه د علت په اړه فکر کوي او سوال کوي. که خدای مطلق قادر، عادل او نېک دی، نو بیا ولې اجازه ورکوي چې یو نېک سړی بې له کوم دلیل نه په مصیبت باندې اخته شي؟

ایوب یو نېک سړی، د قبیلې یو عزتمن مشر او یو شتمن سړی د کور او اولادونو خاوند ؤ چې سمدلاسه یې خپل هر څه له لاسه ورکړل او په یو بېچاره او خاورې په سر انسان باندې بدل شو. ایوب برسېره پردې چې خپل ټول شیان یې له لاسه ورکړل، په یوې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دردوونکي ناروغۍ باندې هم اخته شو. کله چې ایوب غریب او خاورې په سر شو، نو د هغه درې ملګري د هغه د لیدلو دپاره راغلل او د هغه د مصیبت او بدبختۍ په اړه یې بحث پیل کړ. د ایوب ملګرو هغه ته تشریح کړه چې د هغه کړاو او مصیبت د هغه د ګناهونو له امله دی. هغوی په دې خپلې نظریې او فکر باندې ټینګار کاوه لکه څرنګه چې خدای بدۍ ته سزا او نېکۍ ته اجر ورکوي، نو په ایوب باندې یې هم د خپلو ګناهونو له امله داسې ورځ راوستلې ده. خو ایوب دا دلیل ونه مانه او خپل ځان یې یو ښه سړی او هغه سزا یې ظالمانه وګڼله. هغه په زړورتیا سره د خدای سره بحث وکړ، خو له دې سره سره هغه په خپل ایمان ټینګ پاتې شو. هغه هیله درلودله چې د خدای په حضور کې به د هر ډول ګناه څخه پاک شي او د یو نېک سړي په توګه به خپل عزت او اعتبار بېرته ترلاسه کړي. سره له دې چې هغه ډېرې پوښتنې وکړې، خو خدای هغه ته مستقیم ځواب ورنه کړ، خو د خپل الهي قدرت او حکمت په ښودلو سره په هغه باندې فشار راوړ.

په پای کې ایوب په عاجزۍ سره د خدای په لویۍ او حکمت


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

باندې اقرار وکړ او د خپلو قهرجنو او غیرضروري خبرو په خاطر چې کړې يې وې، پښېماني وښودله. بیا خدای د ایوب د ایمان ستاینه وکړه او د هغه حالت يې په ډېرو برکتونو سره بېرته د مخکې نه ښه کړ.

## د موضوعګانو لست:


د ایوب بدبختي: ۱ – ۲ فصلونه

د ایوب شکایت: ۳ فصل

لومړنۍ وینا: ۴ – ۱۴ فصلونه

دوهمه وینا: ۱۵ – ۲۱ فصلونه

درېمه وینا: ۲۲ – ۲۷ فصلونه

د حکمت دپاره هڅه: ۲۸ فصل



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ایوب وروستنۍ وینا: ۲۹ – ۳۱ فصلونه

د الیهو ویناوې: ۳۲ – ۳۷ فصلونه

ایوب ته د څښتن ځواب: ۳۸ – ۴۲:۶

ایوب بېرته خپل پخواني حالت ته راګرځي: ۴۲:۷ – ۱۷

## د ایوب شخصیت او شتمني

۱ یو سړی ؤ چې ایوب نومېده او د عوص په هېواد کې اوسېده.
هغه یو پاک او نېک سړی ؤ. هغه د خدای نه وېرېده او د بدۍ نه یې
ځان ساته. ۲ هغه اووه زامن او درې لورګانې درلودلې ۳ او اووه
زره پسونه، درې زره اوښان، پنځه سوه جوړه غویان او پنځه سوه
خرې یې درلودلې. هغه زیات شمېر خدمتګاران هم درلودل او په
منځنۍ اسیا کې تر ټولو شتمن سړی ؤ.

۴ د ایوب زامنو به په وار سره په خپل کور کې مېلمستیا


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

جوړوله چې نور ټول به ورته ورتلل او هغوی به خپلو درېو خویندو
ته بلنه ورکوله چې د هغوی په مېلمستیاوو کې ګډون وکړي. ۵ د
هرې مېلمستیا څخه وروسته به ایوب سهار وختي پاڅېده، خپل
اولادونه به یې راغوښتل او د هر یو دپاره به یې سوځېدونکې قرباني
وړاندې کولې، د دې دپاره چې هغوی په مذهبي لحاظ پاک شي.
هغه به تل دا کار کاوه، ځکه هغه فکر کاوه چې کېدای شي د هغوی
څخه کوم یو ګناه کړې وي او په خپلو زړونو کې یې خدای ته بد رد
ویلې وي.

## خدای شیطان ته اجازه ورکوي چې ایوب وازمایي

۶ یوه ورځ کله چې فرښتې د څښتن په حضور کې راغونډې
شوې، شیطان هم د هغوی سره ؤ. ۷ څښتن د شیطان څخه پوښتنه
وکړه: «ته له کوم ځای نه راغلې؟» شیطان په ځواب کې وویل: «زه
یو خوا بل خوا د ځمکې ګردچاپېر ګرځېدم.» ۸ څښتن د شیطان
څخه پوښتنه وکړه: «زما خدمتګار ایوب ته دې پام دی؟ د ځمکې
په مخ د هغه په شان هېڅوک نشته. هغه پاک او نېک سړی دی. هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما څخه وېرېږي او د بدۍ نه ځان ساتي.» ۹ نو شيطان په ځواب کې ووېل: «ايا ايوب ستا نه وېرېږي او ايا دا وېرېدل ورته څه ګټه رسوي؟ ۱۰ تا تل د هغه، د هغه کورنۍ او هر څه چې لري د هغه ساتنه کړې ده. تا د هغه په هر کار کې برکت اچولی دی او هغه ته دې زياتې پادې او رمې ورکړې دي. ۱۱ خو که ته اوس د هغه څخه هر څه واخلې، نو هغه به ستا په مخکې تا ته کفر ووايي!» ۱۲ نو څښتن شيطان ته ووېل: «سمه ده، د هغه هر څه ستا په اختيار کې دي، خو ته بايد په خپله ايوب ته زيان ونه رسوې.» نو شيطان د خدای د حضور څخه لاړ.

## ايوب خپل اولادونه او شتمني له لاسه ورکوي

۱۳ يوه ورځ کله چې د ايوب زامن او لورګانې د خپل مشر ورور په کور کې مېلمانه وو، ۱۴ يو استازی ايوب ته راغی او ويې ويل: «مونږ په غويانو باندې پټي قلبه کول او خرې په نژدې څرځای کې څرېدلې، ۱۵ نو ناڅاپه د سباييانو يوې ډلې حمله وکړه او هغوی يې ونيول او ستا ټول خدمتګاران يې په توره باندې ووژل. يوازې زه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وتښتېدم او راغلم چې تا خبر کړم.» ۱۶ مخکې له دې چې هغه خپلې خبرې پای ته ورسوي، بل خدمتګار راغی او ویې ویل: «په پسونو او شپنو باندې تندر راوغورځېده او ټول یې ووژل. یوازې زه پاتې شوم او راغلم چې تا خبر کړم.» ۱۷ مخکې له دې چې هغه خپلې خبرې پای ته ورسوي، بل خدمتګار راغی او ویې ویل: «د کلدانیانو دریو ډلو په مونږ باندې حمله وکړه، اوښان یې وتښتول او ټول خدمتګاران یې په توره باندې ووژل. یوازې زه وتښتېدم او راغلم چې تا خبر کړم.» ۱۸ مخکې له دې چې هغه خپلې خبرې پای ته ورسوي، بل خدمتګار راغی او ویې ویل: «ستا زامن او لورګانې ستا د مشر زوی په کور کې مېلمانه وو، ۱۹ په دې وخت کې له دښتې څخه توفان راغی. هغه توفان کور راوغورځاوه او ستا ټول اولادونه مړه شول. یوازې زه ژوندی پاتې شوم او راغلم چې تا خبر کړم.»

۲۰ بیا ایوب پاڅېد او له غمه یې خپل کالي وشکول. هغه خپل سر وخرایه او خپل ځان یې پړمخې په ځمکه باندې وغورځاوه او سجده یې وکړه. ۲۱ بیا هغه وویل: «زه تش لاس نړۍ ته راغلی وم


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او تش لاس به ځم. څښتن هر څه راکړل او اوس يې رانه واخيستل.
ثنا دې وي د هغه نوم ته!»

٢٢ د دې ټولو پېښو سره سره هم ايوب ګناه ونه کړه او خدای يې ملامت نه کړ.

## شيطان يوځل بيا په ايوب باندې ازمېښت کوي

١ يوه ورځ کله چې فرښتې د څښتن په حضور کې بيا راغونډې شوې، شيطان د هغو سره ؤ. ٢ څښتن د هغه څخه پوښتنه وکړه: «ته د کوم ځای نه راغلې؟» نو شيطان په ځواب کې وويل: «زه يو خوا بل خوا د ځمکې ګردچاپېر ګرځېدم.» ٣ څښتن شيطان ته وويل: «زما خدمتګار ايوب ته دې پام دی؟ د ځمکې په مخ د هغه په شان هېڅوک نشته. هغه يو پاک او نېک سړی دی چې د خدای څخه وېرېږي او د بدو کارونو نه ځان ساتي. تا زه دې ته وهڅولم چې تا پرېږدم چې بې له کوم دليل نه د هغه کورنۍ او شتمني له منځه يوسې، خو ايوب اوس هم د مخکې په شان وفادار دی.» ٤


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا شیطان په ځواب کې ووېل: «اول ځان بیا جهان! د دې دپاره
چې یو سړی ژوندی پاتې شي، هغه به له هر شي څخه لاس واخلي.
٥ خو اوس که ته د هغه بدن ته زیان ورسوې، نو هغه به ستا په
مخکې تا ته کفر ووايي!» ٦ نو څښتن شیطان ته ووېل: «سمه ده،
هغه ستا په اختیار کې دی، خو هغه به نه وژنې.»

٧ بیا شیطان د څښتن د حضور څخه لاړ او په ایوب باندې یې
د سر نه تر پښو پورې دانې راوخېژولې. ٨ ایوب لاړ او په ایرو
باندې کښېناست او د منګي یوه ټوټه یې راواخیستله چې خپل ځان
ورباندې وګروي. ٩ بیا ایوب ته خپلې ښځې ووېل: «ته لا تراوسه
وفادار یې؟ خدای ته کفر ووایه او مړ شه.» ١٠ خو ایوب ورته په
ځواب کې ووېل: «ته د یوې کم‌عقلې ښځې په شان خبرې کوې. ایا
ته غواړې چې د خدای له خوا ښه شیان قبول کړو او بد شیان یې
قبول نه کړو؟»

خو د دې ټولو ستونزو سره سره چې ایوب ورسره مخ شو، هغه
ګناه ونه کړه او د خدای په ضد یوه خبره هم ونه کړه.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د ایوب درې ملګري راځي چې تسلي ورته ورکړي

۱۱ کله چې د ایوب درې ملګري یعنې الیفاز د تیمان د ښار
څخه، بلدد د شوح څخه او صوفر د نعمات څخه د هغه د ستونزو
څخه خبر شول، نو پرېکړه یې وکړه چې لاړ شي او د هغه سره خپله
خواخوږي ښکاره کړي او تسلي ورته ورکړي. ۱۲ په داسې حال کې
چې هغوی لا ډېر لېرې وو، ایوب یې ولیده، خو هغه یې ونه پېژانده.
کله چې هغوی ایوب وپېژانده، په ژړا او انګولا یې پیل وکړ، خپل
کالي یې له غمه وشکول او په خپلو سرونو باندې یې خاورې باد
کړې. ۱۳ بیا هغوی د هغه سره اووه شپې او اووه ورځې په ځمکه
باندې کښېناستل او یوه خبره یې هم ونه کړه، ځکه چې هغوی ولیدل
چې په هغه باندې څومره سختې تېرېږي.

# ایوب خپل د زېږېدنې په ورځې باندې لعنت وایي

۱-۲ له هغې وروسته ایوب په خبرو پیل وکړ او په هغې ورځې
باندې یې چې هغه په کې زېږېدلی ؤ، لعنت ووایه.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٣ شي دې تباه هغه ورځ

چې په کې زه يم زېږېدلی

د مور په نس کې چې پيدا شومه زه

وي دې لعنت په هغې شپې باندې

٤ خدای تعالی، بدله هغه ورځ کړه په تيارې باندې

بيا در په ياده نه کړې هغه ورځ

رڼا مه راوله بيا په هغه ورځ باندې

٥ توره دې شي او رادې شي توره تياره ورباندې

ورباندې پاتې دې شي وريځې

هغه دې وويروي د هغې ورځې تياره


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۶ تباه دې شي هغه شپه

هغه دې نه شي حساب د کال په ورځو کې

هغه دې نه شي حساب په مياشتو کې

۷ په هغه شپه دې پيدا نه شي ماشوم

په کې دې نه وي د خوشحالۍ چيغې

۸ لعنت ويونکي دې لعنت ووايي په هغې ورځې باندې

څوک چې کولای شي راويښ کړي بحري ښامار

۹ د سهار ستوري دې شي تياره د هغې

وي دې په تمه د رڼا، خو رڼا به نه وي

نه دې ووينې هغه د سهار سترګه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ ځکه چې بند یې نه کړ رحم زما د مور

او زه یې پیدا کړمه چې ووینم دا تکلیفونه ټول

۱۱ ولې مړ نه شومه زه د زېږېدو په وخت کې؟

او ولې مړ نه شوم کله چې راغلمه دنیا ته د مور له
رحم؟

۱۲ ولې مې مور په زنګنونو خپلو خملولم؟

او ولې هغې خپلې شیدې راکړې؟

۱۳ که په هغه وخت کې مړ وای نو خاموش به وای اوس

زه به ویده وای او ارام به وای

۱۴ وای به ارام زه د دنیا د پاچاهانو او وزیرانو سره

هغوی چې ځان ته وو جوړ کړي هغه ځایونه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې اوس وران پراته دي

۱۵ بیا به ویده وای زه د هغو شاهزادګانو سره

چې خپل کورونه يې ډکول د سرو او سپينو زرو څخه

۱۶ ولې ښخ نه شومه زه هغه ماشوم په شان

چې زیږېدلی وي مړ او ليدلې يې نه وي هيڅکله رڼا؟

۱۷ بدکاره خلک بس کوي بدکاري قبر کې

او ستومانه خلک به ومومي ارام هلته

۱۸ حتی تردې چې بنديان هم وي ارام

نه به اوري اوازونه د ظالمانو

۱۹ هلته هرڅوک، لوی او واړه یوشان دي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او غلامان به ازادېږي خپلو بادارانو څخه

۲۰ بدبخته خلک ولې ژوند تېر کړي رڼا کې؟

هغوی ته ولې ورکوي ژوند چې په غم اخته دي؟

۲۱ د مرګ په ارمان دي هغوی خو ورته نه راځي

هغوی د پټې خزانې څخه ګور ښه ګڼي

۲۲ خوشحالېږي هغوی تر هغه وخته پورې

ترڅو چې مړه شي او ښخ شي هغوی

۲۳ ولې رڼا ځلوي په داسې کس باندې چې يې لار وي پټه؟

خدای راګېر کړي هغوی په تکليفونو کې

۲۴ زه وير کومه د خوراک په ځای


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زګېروي مې دي روان لکه اوبو په شان

۲۵ زه چې له هر شي ځخه وېره کوم هغه راځي راباندې

او له هغه څه نه چې وېرېدمه زه راباندې راغی

۲۶ نشته ارام، نشته سکون زما

او نه ختمېږي تکليفونه زما

## لومړی وینا

## (۱:۴ – ۱۴:۲۲)

## بې‌ګناه خلک نه تباه کیږي

۱ بیا الیفاز چې د تیمان د ښار څخه ؤ، ځواب ورکړ:



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٢ ای ایوبه خفه کېږې خو به نه که زه خبرې وکړم؟

زه نور خاموش پاتې کېدلی نه شم

٣ تا ډېرو خلکو ته ده لار ښودلې

تا قوي کړي دي کمزور لاسونه

٤ ستا خبرو به قوت ورکاوه چې ښویېده به څوک

او یو کمزوري ته قوت چې هغه ودرېږي

٥ خو اوس دی وار ستا د تکلیف او بې‌صبره شوی یې ته

چې درباندې راشي تکلیف او ډېر به پرېشانه شې

٦ ایا ستا اعتماد د خدای نه وېره نه ده

ایا ستا صداقت نه درکوي تا ته امید؟


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٧ در په یاد کړه، داسې څوک شته

چې بې‌ګناه وي او تباه شوی وي؟

چې هلاک شوی وي کوم نېک انسان؟

٨ لکه څنګه چې لیدلي دي ما څوک چې کري بدي

او څوک چې کري بدي نو هماغه به رېبي

٩ د خدای ساه به د توفان په شان تباه کړي هغوی

او هغوی به وسوځوي د خپل قهر په اور

١٠ بدکاره خلک غورېږي لکه زمریانو په شان

خو غلي کوي هغوی خدای او ورماتوي غاښونه

١١ قوي زمریانو په شان چې د خوراک دپاره نه لري ښکار


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغوی مړه کیږي او خپریږي هره خوا یې ټول بچیان

۱۲ چا راته پټ یو پیغام راوړ

او زما غوږ ته ګونګوسې راغلې

۱۳ یو شپه ما خوب ولیده

هغه وخت چې خلک ویده وو درانه خوب باندې

۱۴ په ما ویره راغله او ولړزېدم

چې ویې لړزول ټول هډوکي زما

۱۵ یو نرۍ باد زما په مخ ولګېد

او د بدن ویښته مې ودرېدل له ویرې څخه

۱۶ هلته مې ولید چې یو شی ولاړ ؤ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ما ورته وکتل په ځير خو ومې نه پېژانده

ؤ يو شکل زما په وړاندې

بيا مې يو غږ په خاموشۍ کې واورېد

۱۷ ايا نېک کېدلی شي فاني انسان د خدای په نظر؟

يا پاک کېدای شي انسان د خالق په نظر؟

۱۸ که اعتبار نه کوي خدای په اسماني خدمتګارانو خپلو

او پيدا کوي هغه عيبونه فرښتو خپلو کې

۱۹ نو فکر کوې چې دی به وکړي اعتبار

هغه مخلوق باندې چې جوړ له خاورې نه دی

د خاورې داسې يو شی چې ځي له منځه د پتنګ په
شان؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ هغوی سهار ژوندي وي

خو مړه کيږي بېخبره د ماښام نه مخکې

۲۱ اخيستل کيږي هغه څه چې دي هغوی سره

مړه کيږي هغوی په ناپوهۍ کې

## ايوب بايد خدای ته خپله دعوه وړاندې کړي

د اليفاز د خبرو دوام:

۱ فرياد وکړه ای ايوبه

ايا څوک شته درته ځواب درکړي؟

شته کومه داسې فرښته

چې ورته واړوې خپل مخ او ترې کومک وغواړې؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ وژني ناپوهه انسانان قهر

له منځه وړي بخيلي ساده انسان

۳ ناپوهه خلک مې ليدلي چې ريښې کوي د ونې په شان

خو په کورونو د هغوی باندې مې ووايه لعنت ناڅاپه

۴ په اولادونو د هغوی به هیڅ وخت نه وي خيريت

هيڅوک به نه وي چې دفاع يې وکړي په محکمه کې

۵ خوري فصلونه د ناپوهه خلکو به وږي خلک

حتی هر څه چې راشنه کيږي د اغزيو منځ کې

او تږي خلک به يې شتمني لوټوي

۶ بدبختي خاوره کې شنه کيږي نه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او تکلیف په ځمکه زرغونېږي نه

۷ خو انسان دی پیدا شوی د تکلیف دپاره

لکه چې ښنګه سپرغۍ الوزي له اوره شخه

۸ که ستا په ځای وای ما به کړې وای رجوع خدای ته

او وړاندې کړې به وای ما خپله دعوه هغه ته

۹ کوم لوی کارونه چې هغه يې کوي وربانديې نه پوهېږو

او نه ختمیږي معجزې د هغه

۱۰ هغه باران وروي ځمکه باندې

او پټیو ته اوبه ورکوي

۱۱ هغه عاجزانو ته ورکوي سرلوړي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او غمځپلو ته خلاصون ورکوي

۱۲ شنډوي هغه دسيسې د ټګانو

ترڅو نه شي بريالي د دوی کارونه

۱۳ خپلو پلانونو کې هوښياران ګېروي

ترڅو ناکام شي زر د هغوی پلانونه

۱۴ راځي تياره په هغوی د ورځې وخت کې

هغوی غرمه کې ټپوي لاسونه لکه د شپې په وخت

۱۵ خو خلاصوي خدای غريبان د بدکارانو د خبرو څخه

او محتاجان د زوررو د منګولو څخه

۱۶ پيدا کوي هيله هغه له غريبانو سره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او بندوي د بدکارانو خولې

١٧ بختور دي هغه خلک چې يې خدای اصلاح کوي

مه خفه کېږه هغه وخت چې مطلق قادر تا رټي

١٨ پيدا کوي چې کوم زخمونه خدای

خو په هغو باندې پټۍ لګوي

ژوبلوي د هغه لاس تا خو رغوي دې هم

١٩ که هر څو ځلې تکليف درباندې راشي

خدای به دې وساتي له زيانه څخه

٢٠ تا به وساتي ژوندی د قحطۍ وخت کې هغه

او تا به وژغوري له مرګ څخه په جنګ کې هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٢١ له بدنامۍ نه به دې خدای وساتي

د تباهۍ په وخت به نه ویرېږې

٢٢ ته به قحطۍ او تباهۍ پورې خندا کوې

او نه به ویرېږې له وحشي حیواناتو څخه

٢٣ ته چې قلبه کوې کومو ډبرو کې

تیږې به نه کړي مزاحمت تا ته

ته به په امن کې یې د وحشي حیواناتو څخه

٢۴ نو ته به اوسې په امن خپل کور کې

او وې به خوندي پسونه ستا او ورک به نه شي هغه

٢۵ شي به زیات ستا ماشومان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ستا اولاده لکه وابښو په شان

۲۶ لکه پخيږي چې غنم د لو تر وخته پورې

ترڅو چې ستا عمر پخيږي ته به اوسې ژوندی

۲۷ ثابتې کړې په رښتيا دي دا خبرې تجربو زمونږه

نو ای ايوبه، ونيسه غوږ ورته او قبول کړه هغه

## د ايوب شکايت په حقه دی

۱ بيا ايوب اليفاز ته ځواب ورکړ:

۲ که خفګان وای وزن شوی زما

او تکليفونه وای تلل شوي زما

۳ وای به درانه د بحيرې له شګو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو حیران نه شي ته زما سختو خبرو باندې

٤ مطلق قادر زه ویشتلی یم په غشو باندې

شول خپاره د هغو زهر په بدن کې زما

زما په ضد خدای قطار کړي بلاګانې خپلې

٥ ایا کله چې خر لري وابنه نو هرهر کوي

او چې غویی لري وچ وابنه نو رمباړې وهي؟

٦ ایا مزه لري بې‌مالګې خواړه

یا وي خوند د هګۍ سپین کې؟

٧ اشتها نه لرم د هغو خوړو

هر څه چې خورم ما ته پرې کانګې راځي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ کاشکې کولای شوای غوښتنه ما

او پوره کړې وای خدای هیله زما

٩ کاشکې ټوټې ټوټې کړي هغه ما

او رااوږد کړي خپل لاس او ووژني ما

١٠ دا تسلي به وای زما دپاره

او په سخت درد کې به خوشحاله وای

ځکه انکار مې نه دی کړی

سپېڅلي خدای له خبرو څخه

١١ زه څه قوت لرم چې ژوند ته مې دوام ورکړم؟

څه امید لرمه زه چې ژوندی پاتې شم؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ ایا قوي یمه زه لکه د تیږې په شان

یا بدن مې جوړ دی له برنجو څخه؟

۱۳ زه د ځان سره کومک کولای نه شم

داسې څوک نشته چې نجات راکړي

۱۴ چې په خپل دوست باندې څوک رحم نه کړي

هغه نه وېرېږي قادر مطلق نه

۱۵ خو زما ملګرو، بېوفا یئ تاسو داسې ویالې په شان

چې باران نه اوري، وچېږي هغه

۱۶ هغه ویالې چې بندېږي

په واورې او په یخ باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٧ خو وچ موسم کښې ورکيږي اوبه

او په ګرمۍ کښې وچيږي وياله

١٨ کاروانونه لېرې کيږي د اوبو پسې د خپلو لارو څخه

ګرځي په دښته کښې هغوی او ځي له منځه

١٩ کاروانونه د تيما لېرې ځايونو کښې لټوي اوبه

او د شيبا مسافران لري هيله چې پيدا يې کړي

٢٠ هغوی مايوسه شول ځکه ډاډه وو هغوی

هغوی راورسېدل هلته او نااميده شول

٢١ زما ملګرو تاسو هم هغې ويالې په شان يئ

مصيبت زما چې ګورئ نو وېرېږئ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ ایا ما تاسو ته ویلي چې سوغات راکړئ

یا مې ویلي درته چې زما دپاره بل ته ورکړئ رشوت؟

۲۳ یا مې خلاص کړئ د دښمن له لاسه

یا مې په بیه واخلئ د ظالم نه؟

۲۴ راته وکړئ لاربنوونه او زه به غلی اوسم

تاسو ما پوه کړئ چې څنګه یم بې‌لارې شوی زه

۲۵ څومره دردناکې دي صادقانه خبرې

خو بحثونه ستاسو ثابتوي څه؟

۲۶ فکر کوئ زما خبرې دي د باد په شان

نو ولې وایئ ځواب د ناامیدۍ خبرو ته زما؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٧ تاسو به خرخ کړئ يتيمان هم

او پيسې به واخلئ د خپل دوست په سر

٢٨ اوس مهربانه شئ او وګورئ ما ته

ځکه چې نه وايم زه دروغ تاسو ته

٢٩ نور بس دی بې‌انصافي مه کوئ

زه په حقه يم او نور مې مه غندئ

٣٠ خو تاسو فکر کوئ چې زه دروغ وايمه؟

فکر کوئ چې زه په ښو او بدو نه پوهېږم؟

## د ايوب شکايت د خپل سخت ژوند په هکله

١ ايا دنيا کې انسان نه وباسي سخت زحمت


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او ژوند يې نه دی د مزدور په شان؟

٢ چې د يخ سيوري په ارمان وي هغه غلام په شان

چې د تنخوا په انتظار وي هغه مزدور په شان

٣ خدای راکړی بې‌معنی ژوند مياشتې په مياشتې

او زما په قسمت کې دي د بدمرغی شپې

٤ کله چې خملمه زه وايم چې به کله راپاڅېږم

خو شپه اوږده شي

ټوله شپه اوړم رااوړم د سهار ارمان کومه

٥ بدن مې ډک دی له چنجيو او چټليو څخه

هغه پټ دی په داغونو باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زوې بهيږي له زخمونو زما

۶ زر زر تېرېږي د ژوند ورځې زما

لکه د اوبدلو د خرخ

په مايوسۍ باندې تېرېږي هغه

۷ په ياد دې اوسه خدايه

زما ژوند دی يوازې يوه ساه اخيستل

او زما سترګې به ونه ګوري بيا هېڅکله ښه ورځ

۸ هغه سترګې چې مې ګوري اوس

ته لټوې به ما خو زه به نه يم

۹ د داسې ورېځې په شان چې پناه کيږي او ورکيږي هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ځوک چې ځي د مړو دنیا ته بېرته نه راځي هغه

١٠ هغه به هېڅکله رانه شي بیا خپل کور ته

بیا به ونه لیدل شي هېڅکله په خپل ځای کې هغه

١١ نه! زه خاموش پاتې کېدلی نه شم

زه به خبرې کوم له غمجن زړه نه

زه کومه شکایت د خپل دردمن ځان نه

١٢ ایا ته فکر کوې چې بحري بلا یمه زه

چې مې ساتې ته تر څارنې لاندې؟

١٣ زه څملم چې ارام وکړم

او له درد نه خلاص شم



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ خو وېروې ما په خوبونو کې ته

راباندې ګورې روياګانې د ډار

۱۵ دا به وای غوره چې زندئ مې کړي خوک

نه دا چې ژوند تېر کړم دې خوار بدن کې

۱۶ دغه مې بس دی یم بېزاره نور د دې ژوند څخه

ورځې د ژوند دې زما لږې پرېږده چې یم یوازې

۱۷ ورکوې ولې دومره ارزښت انسان ته؟

ته ولې پام کوې هغه باندې؟

۱۸ هر سهار يې پلټنه کوې

او ازمايې هره شیبه هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ کله به ما ته کتل بس کړې

چې زه مې تېرې کړمه خپلې لیاړې؟

۲۰ اې څارونکیه د انسانانو

رسوي زیان زما ګناه تا ته؟

ولې دې زه په نښه کړی یمه؟

دومره دروند بار یمه په تا باندې؟

۲۱ ولې ته نه بخښې ګناه زما

او نه لېرې کوې سرکښي زما؟

زر به زه لاړ شمه خپل ګور ته

کله چې ته ما لټوې نو نه به یمه زه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# بلدد وايي چې ایوب باید توبه وباسي

١ بیا بلدد چې د شوح شخه ؤ، ځواب ورکړ:

٢ ترڅو به ته کوې خبرې؟

د تېز باد په شان دي ستا خبرې

٣ بې‌انصافي نه کوي خدای هېڅکله

تل کوي عادلانه کارونه مطلق قادر

٤ که اولادونو ستا ګناه کړې وي

د خدای په وړاندې

نو خدای دې ورکړي سزا

لکه چې څنګه یې لایق وو هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ که ته خدای ته رجوع وکړې

که ته وکړې زاري مطلق قادر ته رحم دپاره

۶ که چېرې ته دومره صادق او پاک يې

نو شي به راپورته هغه ستا دپاره

بې له شکه بېرته به درکړي کورنۍ دې خپله

۷ تا چې لرل کوم څه هغه ډېر کم وو

د هغه څه په پرتله چې ته به يې ولرئ بيا

۸ پوښتنه وکړه د پخوا زمانې خلکو څخه

څه چې زده کړي دي زمونږ نيکونو

ته فکر وکړه د هغو په هکله


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۹ عمر زمونږ دی لنډ او په هېڅ شي نه پوهېږو

په دنیا کې زمونږ ژوند داسې تېرېږي

لکه سیوري په شان

۱۰ له پخوانیو خلکو واخله عبرت

ته غوږ ونیسه پوهو خبرو ته د دوی

۱۱ چې اوبه کوم ځای کې نه وي

هلته لوخې نه شنې کېږي

له جبه زاره پرته هېڅ نه لوییږي هغه

۱۲ که اوبه نه وي نو شنې نه پاتې کېږي هغه

زر مړاوي کېږي هغه نورو وابنو څخه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ همداسې کيږي هغو خلکو سره

چې خدای يې هېر شي

اميدونه تباه کيږي د بېدينه خلکو

۱۴ په هغه شي باندې اعتبار کوي دوی

چې وي نازک لکه د غنې د جال

۱۵ که دوی تکيه وکړي د غنې په جال

نو وبه نه کاندي ساتنه د هغوی

هغو شيانو باندې کوي تکيه هغوی

چې پاتې کېدلی نه شي ټينګ

۱۶ راشنه کيږي بد خلک لمر کې د هرزه بوټو په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خپرېږي څانګې يې په ټول باغ کې

۱۷ راتاوېږي د هغوی رېښې له تيږو څخه

راټينګوي خپل ځان په هر ګټ پورې

۱۸ خو که هغه راوويستل شي له خپله ځايه

انکار به وکړي هغه ځای او وايي به

چې ما هيڅکله نه يئ ليدلي تاسو

۱۹ په دې ډول د بدو خلکو خوشحالي وي د لږ وخت دپاره

نور به راځي او د دوی ځای به نيسي

۲۰ خو ای ايوبه، خدای به رد نه کړي بې‌عيبه خلک

او نه به بد کارو سره مرسته کوي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٢١ هغه به بیا خوشحالي درکړي تا ته

او خوله به دي ډکه له خندا نه کړي

٢٢ خو وبه شرمیږي ستا بد دښمنان

او کور به تباه شي د بدکارانو

## څوک نشته چې منځګړیتوب وکړي

١ بیا ایوب بلدد ته ځواب ورکړ:

٢ هو زه پوهېږم چې رښتیا دي دا

خو څنګه کولای شي انسان

ځان بې‌ګناه ثابت کړي د خدای په مخکې؟

٣ څوک ویلی شي د هغه سره دلیل؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه کولای شي چې زر ځله پوښتنې وکړي

چې څوک ځواب ورته ویلی نه شي

۴ دومره حکیم او قدرتمن دی خدای

څوک کولای شي چې ودریږي د هغه په وړاندې

او شي بریالی

۵ هغه ناڅاپه خوځوي غرونه

او ورانوي یې چې شي په قهر کله

۶ خوځوي هغه ځمکه له خپل ځایه څخه

او لړزوي د هغې ستنې

۷ هغه حکم کوي لمر ته او نه راخېژي هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شپه کې نیولی شي د ستورو د ځلا مخه

٨ هغه یوازې خپاره کړل اسمانونه

او لاندې کړي یې تر پښو ځپې د بحیرې

٩ خدای راپیدا کړل په اسمان کې ستوري

لکه ستوري د شمال، جبار، ثریا او د جنوب ستوري

١٠ مونږ نه پوهېږو د هغه په لویو لویو کارو

او کوي بې‌شمېره عجیبه کارونه

١١ تېرېږي خدای زما په څنګ کې زه یې لیدلی نه شم

کله چې ځي هغه نو زه پرې نه پوهېږم

١٢ هر څه چې وغواړي نو اخلي هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

منع کولای نه شي هېڅوک هغه

هېڅوک جرات کولای نه شي

چې پوښتنه وکړي چې څه کوې ته

١٣ نه اخلي لاس خدای له خپل قهر څخه

ټوټې کوي هغه خلک چې کوي مرسته د بحري بلا

١٤ نو څنګه زه ورکړم ځواب هغه ته

او څنګه کولای شمه چې وکړم بحث ورسره؟

١٥ سره له دې چې بې ګناه يمه زه

هغه ته نه شم ورکولای ځواب

يوازې دا شمه کولای چې زاری وکړم


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

قاضي ته د رحمت دپاره

۱۶ حتی که ما راوغوښت هغه او هغه راکړ ځواب

باور مې نه شي چې خبرو ته مې غوږ ونیسي

۱۷ بې‌دلیله مې وهي هغه توفان باندې

او زیاتوي زما زخمونه

۱۸ هغه مې نه پرېږدي چې ساه وباسم

هغه تریخ کړی زما ژوند دی

۱۹ که دا خبره وي د زور نو قوي دی هغه

خو که خبره د انصاف وي

څوک محکمې ته شي غوښتلی هغه؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ سره له دې چې بې‌عیبه یم زه

خو له ګناه نه ډکې زما خبرې ښکارې

څه چې ووایم زه تمامېږي زما په زیان

۲۱ زه بې‌عیبه یم خو پروا مې نشته

یمه بېزار له ژونده خو هېڅ پروا مې نشته

۲۲ خدای تباه کوي بې‌عیبه او بدکاره

نو ځکه وایم چې هېڅ فرق نه کوي

۲۳ کله چې راشي مصیبت

او ناڅاپه مړ شي بې‌عیبه انسان

خدای په هغه پورې خندا کوي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ خدای دنیا ورکړه بدکارانو ته

سترګې يې ړندې کړلې قاضيانو ته

که خدای کړی نه وي دغه کار

نو بيا چا وکړ؟

۲۵ ژوند مې ډېر زر تېرېږي

د منډې وهونکي د سيالۍ په شان

هغه تېرېږي او نشته د هيلې خوشحالۍ په کې

۲۶ ژوند مې تېرېږي په مثال د يوې تېزې کشتۍ

داسې عقاب په شان چې غوټه وهي خپل ښکار باندې

۲۷ که زه خوشحال شم او کوښښ وکړم


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې مې هېر کړم تکليف

۲۸ نو ټول مشکلات به راپسې وي او ما به نه پرېږدي

زه پوهېږمه چې خدای مې ګناهکار ګڼي

۲۹ دا چې مجرم يم ګڼل شوی

نو بيا ولې وکړمه بېځايه خواري؟

۳۰ که زه ووينځم خپل ځان په پاکو اوبو باندې

او لاسونه ووينځم زه په صابون باندې

۳۱ خو بياهم ما غورځوي خدای د چټلۍ کندې ته

چې حتی خپل کالي هم راڅخه کرکه کوي

۳۲ که خدای انسان وای ما به ځواب


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوای ورکولای ورته

مونږ به کولای شوای چې محکمې ته لاړ شو

د جنجال د فیصلې دپاره

۳۳ خو نشته څوک چې منځګړیتوب وکړي

زمونږ تر منځه

داسې څوک نشته چې وکړي قضاوت

زما او خدای تر منځه

۳۴ بس کړه ای خدایه نوره مه راکوه ما ته سزا

او ما نور مه وېروه په خپلې هیبتناکې وېرې

۳۵ بیا به زه وشمه کولای چې خبرې وکړم بې له وېرې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو اوس زه نه شمه کولای چې خبرې وکړم

## خدای ته د ایوب زاري

١ زه له خپل ژونده یم بېزاره

زما دا سخته ګیله واوره

زه شکایت کوم د خپل تریخ ژوند نه

٢ زه به خدای ته وایم چې غندنه زما مه کوه ته

راته ووایه، لګېدلی دی په ما باندې کوم تور

٣ ستا دپاره مناسب دي چې ته ظالم شې دومره

چې کرکه وکړې له هغه شي نه

کوم چې په خپله دی جوړ کړی تا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو بيا خوشحاله يې ته

د بدو خلکو دسيسو سره؟

۴ ايا ټولو شيانو ته همداسې ګورې

لکه چې څنګه ورته مونږه انسانان ګورو؟

۵ ايا ژوند دې دی لنډ

زمونږ د ژوند په شان؟

۶ نو بيا ولې لټوې ته ګناهونه ما کې

او خطاګانې لټوې په ما کې؟

۷ په دې پوهېږې چې مجرم نه يمه

هېڅوک مې تا نه خلاصولی نه شي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ زه دې جوړ کړی یم په خپلو لاسو

خو تباه کوې مې اوس همدا لاسونه

٩ په یاد دې اوسه چې لکه د ختو دې جوړ کړی یمه

او اوس مې بېرته بدلوې په خاورو؟

١٠ تا قوت ورکړ زما پلار ته چې پیدا شم ورنه

زه دې کړم لوی د خپلې مور په نس کې

١١ زما بدن دې د هډوکو او د پلو نه جوړ کړ

زما هډوکي دې کړل پټ په عضلاتو او پوستکي باندې

١٢ تا ما ته راکړ ژوند او تلپاتې مینه

ستا پاملرنې یم ژوندی ساتلی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ خو زه پوهېږمه اوس چې هغه وخت به

تا په پټه دا اراده لرله چې راته ورسوې زيان

۱۴ تا به کتل چې ايا زه کوم ګناه او که نه

ترڅو چې ته مې د بخښلو نه انکار وکړې

۱۵ که ګناهکار يا بې‌ګناه يمه زه

په سبب د تکليفونو خپلو زه يم محکوم او خجل

۱۶ که زه لږ څه بريالی شوی هم وای

د زمري په شان به مې لټولې وې ته

ته خپل قدرت کاروې چې زيان راته راورسوې

۱۷ ته تل زما په ضد پيدا کوې شاهدان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

په ما زیاتیږي ورو ورو قهر ستا

هر ځل حملې کوې په ما باندې

۱۸ ولې دې پرېښودمه خدایه چې دنیا ته راشم؟

کاشکې زه مړ وای مخکې چې چا لیدلی نه وای

۱۹ داسې به ښه وای چې هېڅکله زه موجود نه وای

چې ګور ته تللی وای د مور له نس نه

۲۰ ایا نه دی نږدې شوی ختمېدو ته زما ژوند؟

یوازې پرېږده ما

پرېږده چې خوند واخلم له پاتې ژوند نه

۲۱ زه به زر لاړ شم بیا به هېڅ رانه شم


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

داسې خاورې ته به لاړ شمه زه

چې وي ډکه له تیارې او مایوسۍ نه

٢٢ د تیارې، سیورو او د ګډوډۍ خاورې ته

چېرته چې وي په کې رڼا هم د تیارې په شان

## د صوفر په نظر ایوب د سزا لایق دی

١ صوفر چې د نعمات څخه ؤ، ایوب ته ځواب ورکړ:

٢ څوک به وواییي ځواب دې ډېرو خبرو ته؟

دومره خبرې به ثابت کړي چې په حقه یې ته؟

٣ فکر کوې چې ځواب نه شو درکولای مونږه

ستا خوشې خبرو ته؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا خبرې چې دي ډکې له ملنډو څخه

څوک به وشرموي تا هم؟

۴ ته دعوه کوې د دې چې عقيده مې ده رښتينې

او دعوه کوې د دې چې د خدای په نظر پاک يم

۵ خو کاشکې خبرې وکړي خدای درسره

او درته درکړي ځواب

۶ کاشکې ووايي هغه درته پټ رازونه د حکمت

شته داسې شيان چې دي لوړ د انسان له پوهې

بايد پوه شې چې خدای درکوي درته هغې نه هم

کمه سزا چې يې لايق د هغې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٧ معلومولی شي ته پټ رازونه د خدای

او ته کولای شې چې پوه شې په هر څه د قادر مطلق
په هکله؟

٨ هغه ډېر لوړ دي له اسمانه څخه څه کولای شې ته؟

هغه ژور دي د مړو له دنیا په څه پوهېږې ته؟

٩ هغه پراخ دي ډېر د ځمکې څخه

او دي سورور له بحیرې څخه

١٠ که دې ونیسي خدای او تا محکمې ته یوسي

څوک نیولی شي د هغه مخه؟

١١ خدای پوهیږي چې کوم خلک دي بېکاره

کله چې ویني هغه بد عملونه د هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ایا ورباندې پټې به کړي سترګې هغه؟

۱۲ هغه وخت به شي هوښیار ناپوهه خلک

چې وحشي خره وزېږوي انسان

۱۳ که دې نژدې کړې زړه ای ایوبه خدای ته

او خدای ته پورته کړې لاسونه

۱۴ که دې پاک کړ د ګناه نه خپل لاس

او بدي دې لېرې کړه د خپل کور نه

۱۵ نو بیا به راپورته کړې خپل سر

پرته له دې چې وشرمېږې

ته به ډاډه اوسې او وېرېږې به نه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ بیا به هېر کړي خپل تکلیفونه داسې

لکه څنګه چې تېرېږي سېلابونه او هېرېږي

۱۷ بیا د غرمې د لمر نه به وي روښانه ستا ژوند

وبه ځلیږي ستا د ژوند تیارې شپې

د سباوون په شان

۱۸ بیا به ته وکړې د امن او هیلې نه ډک ژوند

خدای به دې وساتي او درته به درکړي امن او ارام

۱۹ بیا به ارام یې ته د خپلو دښمنانو څخه

ډېر خلک به وغواړي له تا نه مرسته

۲۰ خو ناامیدی نه به بدکاره خلک


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ګوري يو خوا او بلې خواته

او پيدا به نه کړي دوی د تېښتې لاره

هغوی سره به وي يوازې د مرګي هيله

## يوازې خدای حکمت او قدرت لري

١ بيا ايوب ځواب ورکړ:

٢ تاسو فکر کوئ چې په هر څه پوهېږئ

چې کله مړه شئ نو حکمت به هم شي مړ درسره

٣ خو ځومره چې تاسو لرئ پوهه زه يې هم لرمه

په هيڅ لحاظ له تاسو کم نه يمه

هرڅوک پوهېږي چې تاسو څه وايئ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۴ اوس خپل ملګري زما هم کوي خندا راپورې

خو يو وخت به دعاګانې زما خدای قبلولې

سره له دې چې زه بېعيبه او نېک يمه زه

خو بياهم راپورې خاندي هغوی

۵ هيڅ تکليف په تاسو نشته خو بياهم په ما ملندې وهئ

تاسو وهئ داسې څوک چې وي لوېدو ته نژدې

۶ خو ژوند ارام دی د غلو

او خوندي دي هغه خلک چې خدای په قهروي

که څه هم د هغوی خدای د هغوی خپل قوت دی

۷ د حيواناتو نه پوښتنه وکړئ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغوی به زده کړي ډېر شيان تاسو ته

سوال وکړئ د مرغانو نه

هغوی به درکړي ځواب

٨ که پوښتنه وکړئ تاسو د ځمکې د مخلوقاتو څخه

نو درته به وکړي لارښوونه

که پوښتنه وکړئ د بحيرې له ماهيانو څخه

نو کړي به خبر تاسو

٩ هغوی پوهيږي ټول

چې دي جوړ شوي د څښتن په لاس

١٠ د هر ژوندي مخلوق او ټولو انسانانو ساه ده


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغه په لاس کې

۱۱ لکه څنګه خوله پوهیږي د ښو خوړو په خوند

نو غوږونه هم پیژني ښې خبرې

۱۲ زاړه خلک لري حکمت

سپین ږیري خلک لري پوهه

۱۳ خو خدای لري حکمت او قدرت

هغه لري پوهه او قدرت د عمل

۱۴ هغه څه چې خدای یې وران کړي

هغه هیڅوک ودانولی نه شي

هغه خلک چې بندیان یې کړي خدای


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هېڅوک نه شي ازادولی هغوی

۱۵ خدای چې باران ودروي نو وچکالي راځي

چې راخوشې کړي اوبه نو سېلابونه راځي

۱۶ د هغه سره قدرت دی او حکمت

دي غولېدونکي او غولوونکي دواړه

د هغه په لاس کې

۱۷ له حاکمانو څخه اخلي حکمت

او له قاضیانو جوړوي احمقان

۱۸ هغه له تخته غورځوي پاچاهان

او ترې جوړوي غلامان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١٩ هغه شړي کاهنان او ورڅخه اخلي اختیار

او د قدرت له خاوندانو عاجزان جوړوي

٢٠ دی بندوي د اعتباري خلکو خولې

او له سپینږیرو څخه اخلي حکمت

٢١ رسوا کوي دی مشران خلک

او اخلي قدرت له حاکمانو څخه

٢٢ ښکاره کوي پټ رازونه په تیاره کې هغه

بدلوي توره تیاره هغه رڼا باندې

٢٣ لویوي هغه قومونه او بیا یې له منځه وړي

پراخوي قومونه او بیا اسیران کوي هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ د هغوی د رهبرانو څخه خدای جوړوي احمقان

هغوی پر پرېږدي چې سرګردانه وارخطا او ورک شي

۲۵ تیوي هغوی لاسونه په تیاره کې

او زنګېږي لاره کې د شرابیانو په شان

## د خدای سره د ایوب دعوه

۱ دا ټول لیدلي ما په خپلو سترګو

اورېدلي زما غوږونو او پوه شوی یم ورباندې

۲ په دې ټولو زه پوهېږم تاسو څومره چې پوهېږئ

له تاسو کم نه یمه

۳ زما شخړه نه ده تاسو سره بلکې د قادر مطلق سره ده


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

غواړمه بحث وکړم د خدای سره د خپلې دعوې

۴ خپل جهالت پټوئ تاسو په دروغو باندې

تاسو يئ لکه د هغو ډاکترانو په شان

چې دوی علاج د چا کولای نه شي

۵ کاشکې خاموش اوسېدلی تاسو په پوره توګه

نو ښکاره به شي چې عقلمن يئ تاسو

۶ تاسو واورئ زما دليل

او غوږ ونيسئ زما دعوې ته

۷ تاسو ولې وايئ دروغ چې دفاع وکړئ د خدای؟

فکر کوئ چې ستاسو دروغ به وکړي ګټه خدای ته؟


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٨ تاسو کوښښ کوئ چې وکړئ طرفداري د هغه؟

تاسو به وکړئ محکمه کې بحث د هغه په دعوې؟

٩ که خدای وګوري په ځير تاسو ته

کوم ښه‌والی به په تاسو کې پيدا کړي هغه؟

لکه چې خنګه تاسو نور غولوئ

فکر کوئ چې تاسو خدای هم غولولی شئ؟

١٠ سره له دې چې تعصب پټ دی ستاسو

تاسو به ورټيي خدای

١١ ايا وبه نه ويروي د هغه لويي تاسو

او په تاسو به رانه شي هيبتناکه ويره؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ دي د ایرو په شان بېکاره متلونه ستاسو

ستاسو بحثونه دي کمزوري لکه ختهو د دېوال په شان

۱۳ غلي شئ راکړئ موقع ما ته چې زه خبرې وکړم

هر څه چې کیږي هغه دې وشي په ما

۱۴ دې ته تیار یم زه

چې په خطر کې مې خپل ژوند واچوم

۱۵ حتی که هغه ووژني ما خو زه امید لرم هغه ته

زه به بیان کړمه هغه ته مې دعوه خپله

۱۶ دا به سبب شي زما د خلاصون

ځکه چې هېڅ بې دینه سړی نه شي کولای جرات


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې مخامخ شي دی له خدای سره

۱۷ اوس مې خبرو ته په غور سره غوږ ونیسئ

او زما وینا واورئ خپلو غوږونو باندې

۱۸ دې ته تیار یم چې دعوه خپله بیان کړمه زه

ځکه چې زه حق په جانب یمه

۱۹ څوک دی چې په ما لګوي تور

که داسې وي نو زه تیار یمه

چې خاموش اوسم او مړ شمه زه

۲۰ ای خدایه، له تا نه غواړم دوه شیان هغه ومنه ته

بیا به له تا څخه کونښښ د پټېدو ونه کړم


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ نور ته بس کړه سزا مه راکوه ما ته

ته مې مه وېروه په خپلې هیبتناکې وېرې

۲۲ ته خبرې وکړه خدایه او زه به درکړم ځواب

یا ما پرېږده چې خبرې وکړم او ته یې راکړه ځواب

۲۳ څه غلطې مې کړې زما ګناه څه ده؟

لګېدلی د کوم جرم تور په ما؟

۲۴ اړوې زما نه ولې ته خپل مخ؟

ولې چلند راسره کړې ته د دښمن په شان؟

۲۵ ته وېروې ما د هغې پاڼې په شان چې وړي یې باد؟

ته حمله کوې په ما لکه د بوسو په یو ډکې باندې؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ لګوې ولې په ما باندې

تورونه د جرمونو سختو

راخخه غواړې ته د هغو ګناهونو حساب

چې مې کړي دي ځوانۍ کې؟

۲۷ ته مې اچوې په پښو کې زنځیرونه

ته مې څارې هر قدم

او ګورې زما د پښو چاپونه هم

۲۸ زه خرابېږم خوسا لرګي په شان

هغې کورتۍ په شان چې وي خوړلې چینجو

## د ایوب ژوند تریخ او لنډ دی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ مونږ راغلي يو دنيا ته ټول کمزوري او بې‌وسه

او ژوند تېروو ټول يوشان لنډ او له تکليف څخه ډک

٢ مونږ زر شنه کېږو د ګلانو په شان

او مړاوي کېږو زر

پناه کېږو مونږ د سيوري په شان

٣ نو خدايه ته ولې نظر ساتې داسې موجود باندې

يا به مې کړې محاکمه او وبه کړې ته قضاوت راسره؟

٤ څوک کولای شي راوباسي يو پاک شی

د يو ناپاک شي څخه؟

هېڅوک کولای نه شي داسې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۵ دی له مخکې ټاکل شوی اوږدوالی زمونږ د ژوند

دی له مخکې ټاکل شوی زمونږ د عمر شمېر د میاشتو

تا دي ټاکلي هغه او نه بدلیږي

۶ سترګې واړوه له مونږه او مونږ یوازې پرېږده

مونږ یو د مزدورانو په شان

پرېږده چې خلاص کړو خپل کار په ارامۍ سره

۷ هیله شته د داسې ونې که هغه ووهل شي

نو راشنه کیږي ببرته او غوړیږي څانګې یې

۸ که څه هم د هغې ریښې زړیږي

او وچیږي سټه یې په ځمکه کې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ بیاهم نیسي غوټۍ لړو اوبو باندې

او شنه کیږي د ځوان بوټي په شان

۱۰ خو مونږ انسانان مړه کیږو او ختمیږو

مونږ ساه ورکوو او چیرته به یو؟

۱۱ لکه څنګه چې وچیږي بحیرې

او ودریږي سیندونه په وچکالۍ کې

۱۲ خلک مړه کیږي او نه راپاڅیږي بیا

ترڅو اسمان نور نه وي نه راویښیږي هغوی

هیڅوک به نه کاندي راویښ هغوی

۱۳ کاشکې مې پټ کړې ته د مړو دنیا کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پټ مې پرېږدې ترخو شي سوړ ستا قهر

او بیا وټاکې وخت چې را په یاد مې کړې ته

۱۴ که چېرې مړ شي یو څوک

ژوندی کېدای شي بیرته؟

خو زه به کوم انتظار د ښو وختونو

چې پای ته ورسیږي دا د تکلیف وخت

۱۵ بیا به ته وکړې غږ او زه به درکړم ځواب

او ته به خوشحاله شې له ما یعنې د خپل مخلوق څخه

۱۶ بیا به ګورې ته زما هر قدم

خو حساب به نه کوې ته د ګناهونو زما


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ ګناهونه به ته لېرې کړې زما

او کړې به پټې زما ټولې خطاګانې

۱۸ رابه شي داسې وخت چې به راپرېوځي غرونه

او وبه خوځيږي له خپل ځايه ګټان

۱۹ لکه ځنګه چې اوبه خرابوي تيږې

او خاوره به يوسي سخت باران

نو داسې ته له منځه وړې هيله زمونږ

۲۰ مغلوبوې ته مونږه

او د مرګ په وخت کې مو څېره بدلوې

بيا شړې مونږه د تل دپاره



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ عزت مومي اولادونه زمونږ

هيڅ نه خبرېږو ترې مونږ

چې رسوا کيږي هغوی

هيڅ نه خبرېږو ترې مونږ

۲۲ احساسوو مونږه يوازې درد د بدنونو خپلو

او احساسوو مونږه غم د ذهنونو خپلو

## دوهمه وينا

## (۱۵:۱ – ۳۴:۲۱)

# د اليفاز په نظر د خدای څخه د ايوب نه وېرېدل


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ بیا الیفاز چې د تیمان د ښار څخه ؤ، ځواب ورکړ:

٢ هوښیار سړی دې ونه کړي داسې تشې خبرې

ته کوې یوازې خوشې خبرې

٣ وبه نه کړي عقلمن سړی خبرې ستا په شان

او نه به وکړي دفاع له خپله ځانه څخه

په داسې بې‌معنی خبرو

٤ خو ته ویرېږې نه له خدای څخه

او مخه نیسې د هغه چا چې کوي دعا خدای ته

٥ ستا له خبرو څخه ښکاري ستا ګناه

ته خوښوې د ټګی ژبه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ ما ته نشته حاجت چې ستا غندنه وکړم

ستا خبرې ورکوې ستا په خلاف شاهدي

۷ فکر کوې چې لومړنی انسان یې چې دنیا ته راغلې؟

کله چې غرونه جوړ کړل خدای ایا پیدا شوی وې ته؟

۸ ایا خبر شوې ته د خدای د مشورو څخه؟

ایا فکر کوې چې یوازې ته هوښیار یې؟

۹ داسې شی نشته چې خبر یې ترې او مونږ ترې نه یو خبر

داسې په څه پوهېږې ته چې مونږ پرې نه پوهېږو؟

۱۰ مونږ زده کړې خپل حکمت سپین ږیرو خلکو څخه

چې زېږېدلي وو هغوی ستا د پلار نه مخکې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١١ ایا تسلي د خدای ده کمه ستا دپاره چې ردوې هغه؟

مونږه وکړلې خبرې په نرمۍ تا سره د خدای له خوا نه

١٢ خو ته يې احساساتي ولې

او له قهره دې راووېستلې په مونږه سترګې؟

١٣ ولې په قهر يې په خدای باندې

او کوې داسې بدې خبرې؟

١٤ ایا شته داسې انسان چې په رښتيا سره وي پاک؟

ایا شته داسې څوک چې وي نېک د خدای په وړاندې؟

١٥ حتی خدای نه کړي اعتبار خپلو فرښتو باندې هم

حتی هغوی هم پاکې نه دي د هغه په نظر


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ نو بیا څومره دي بېاعتباره انسانان

دومره بدکاره دي چې دي تږي د ګناه

۱۷ که ته غوږ ونیسې زما خبرو ته نو درته وبه ښایم

او څه چې لیدلي دي ما زه به یې بیان کړم درته

۱۸ دا هغه څه دي چې مونږ ته ویلي حکیمانو خلکو

چې زده کړي دي هغوی خپلو نیکونو څخه

او هیڅ شی یې پټ ساتلی نه دی

۱۹ د هغوی خاوره وه ازاده له پردیو څخه

او هیڅوک نه ؤ چې کړي بېلارې هغوی

۲۰ کوم بدکاران چې زیاتی کوي د نورو سره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رابه شي پرې مصيبت ترڅو ژوندي وي هغوی

٢١ وي وېرووونکي اوازونه به د دوی غوږو کې

چې کله فکر وکړي چې دي خوندي هغوی

داړه ماران به حمله وکړي په هغوی باندې

٢٢ هغوی ته نشته هيله د تيارې نه تښتېدو دپاره

ځکه يو کس کړي انتظار چې کړي قتل هغوی

٢٣ هغوی ګرځي سرګردانه د خوړو پسې

هغوی پوهېږي چې يې ورځ د تباهۍ ده نژدې

٢٤ د مصيبت او بدبختۍ وېره به راشي په هغوی باندې

لکه پاچا چې تياری نيسي د جنګ دپاره


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ ځکه پورته کوي هغوی لاسونه په خدای باندې

او سرکښي کړي د مطلق قادر

۲۶ هغوی حمله کوي په خدای باندې په سرکښۍ سره

په سرزورۍ پورته کوي هغوی سپرونه

۲۷ هغوی شتمن دي او نېکمرغه دي

ډېرې دي غتې د هغوی خېټې

۲۸ هغوی اوسېږي به هغو ښارونو کې چې وران به شي

هغو کورونو کې چې په کې نه اوسېږي څوک

هغه کورونه چې بدل به شي د خاورو په ډېریو باندې

۲۹ هغوی به پاتې نه شي ډېر وخت شتمن


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

پاتې به نه شي هېڅ مال د هغوی

پاتې به نه شي د هغوی سیوري هم

٣٠ له تیارې نه به خلاص نه شي هغوی

هغوی به شي د هغو ونو په شان

چې اور یې وسوځوي ځانګې

او چې باد یې یوسي ګلان

٣١ که وي دومره احمقان هغوی

چې توکل کوي په بې‌فایدې شیانو

بیا به هغه شي د هغوی انعام

٣٢ هغوی به مړاوي شي لکه د ونو په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

د وخت پوره کېدو نه مخکې

شي به مړاوي لکه د څانګې په شان

او بيا به راشنه نه شي هېڅکله

۳۳ هغوی به وي هغو تاکونو په شان

چې توييږي خام انګور ورځخه

هغوی به وي زيتون د ونو په شان

چې ترې توييږي بېوخته ګلان

۳۴ بېدينه خلک به شي پاتې بېاولاده

او هغه کورونه چې جوړ کړي يې په رشوت دي

هغه به وسوځوي اور


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۵ دا هغه خلک دي چې جوړوي بد پلانونه

کوي بدي او د هغوی زړونه دي ډک تل د ټګۍ نه

## خدای او انسان دواړو ایوب پریښی دی

۱ بیا ایوب الیفاز او نورو ته ځواب ورکړ:

۲ ما مخکې هم دي اورېدلې ډېرې داسې خبرې

تسلي نه بلکې تکلیف راکوئ ما ته تاسو

۳ خلاصې به نه شي ستاسو بې‌معنی خبرې؟

تاسو ته څه تکلیف دی چې کوئ بحث؟

۴ که تاسو وای زما په ځای او زه وای ستاسو په ځای

ما به خپل سر وای خوځولی درته د اعتراض په توګه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۵ په خپله خوله به درکولای شوای ما تسلي تاسو ته

او ستاسو درد به وای کم کړی تسلۍ زما

۶ خو هر څه چې وایم نه کوي ګټه

او درد مې نه کموي حتی که غلی پاتې شمه

۷ خدایه، زه دې ډېر یم ستړی کړی

تا تباه کړه زما ټوله کورنۍ

۸ تا رانیولی یم زه او کړې دښمني راسره

صرف پوستکی او هډوکي دی په ما کې پاتې

او خلک دا ګڼي ثبوت د مجرمۍ زما

۹ ټوټې ټوټې کوي مې خدای له قهره


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زما نه کرکه کوي او چیچي خپل غاښونه ما ته

راوباسي هغه په ما سترګې د دښمن په شان

١٠ خلک په ما باندې ملنډې وهې

او وهي ما په څپېړو په مخ باندې

راټولېږي هغوی زما په وړاندې

١١ په لاس ورکړی یمه خدای ګناهکارانو ته

او تسلیم کړی یې یم زه بدکارانو ته

١٢-١٣ ما درلود ارامه ژوند خو خدای برباد کړمه زه

هغه راونیولم ستوني نه او ټوټې ټوټې یې کړم زه

خدای جوړه کړې له ما د خپلو غشو نښه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او له هرې خوا کوي د غشو ګوزارونه په ما

په بې‌رحمۍ سورى کوي او ټپي کوي دا غشي ما

او تویوي زما وینه په ځمکه باندې

١۴ هغه حمله کوي په ما باندې لکه عسکر په شان

ټپي کوي مې هغه بیا بیا

١۵ زه کوم ویر او د ویر کالي اغوندم

ما خوړلې ماتې او کښېنمه دلته زه په خاورو کې

١۶ دومره وژړل ما چې سور شو مخ زما

سترګې مې وپړسېدې او تور شول لیمه زما

١٧ خو ما نه دى کړى هېڅ ظلم


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او له اخلاصه مې دعا وکړله خدای ته

۱۸ ای ځمکې پټه نه کړې زما وینه

نه کړې بند زما د انصاف فریاد

۱۹ اوس شته داسې څوک چې په اسمان کې وي شاهد زما

چې راسره ودریږي او طرفداري وکړي زما

۲۰ زما ملګري سپکاوی کړي زما

زه خپل خدای ته تویومه اوښکې

۲۱ زما په کار دی یو څوک چې مې وکړي شفاعت خدای ته

لکه یو څوک چې شفاعت د خپل ملګري کوي

۲۲ تیریږي زما د ژوند کلونه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زه روان یم داسې ځای ته

چې نه راستنیږي ترې څوک

## ایوب وایي چې زما هیله چېرته ده؟

١ زما زور دی ختم شوی

زما ژوند دی ختمېدو ته نژدې شوی

او زما په انتظار دی قبر

٢ په رښتیا ما نه راتاو دي مسخره کوونکي

زه وینم هغوی چې ما ته ښنګه سخت پېغور راکوي

٣ ای خدایه، په خپله وکړه ضمانت زما

نشته بل څوک چې ملاتړ وکړي زما


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۴ تا بند کړي دي ذهنونه د هغوی چې پوه شي

نو مه پرېږده هغوی چې بری ومومي په ما باندې

۵ خلک وايي څوک چې خيانت کړي

د پيسو په خاطر خپلو ملګرو سره

نو اولادونه به يې کړيږي د هغه دپاره

۶ اوس دا خبرې کاروي زما په ضد باندې

او توکوي لياړې زما په مخ باندې

۷ د غم له لاسه ړندېدو ته نژدې شوې زما سترګې

نرۍ شوې دي د سيوري په شان متې او پښې زما

۸ هغه خلک چې دي نېک شي به حيران دومره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او بېدينه خلک به شي راپورته د بېدينو په ضد

٩ خو نېکان به روان وي خپلو لارو باندې

او ورځ په ورځ به پاک خلک قوي کيږي

١٠ خو اوس ای زما ملګرو که تاسو ټول هم راشئ

او ودرېږئ زما په وړاندې

پيدا به نه کړم هوښيار کس تاسو کې

١١ زما ژوند تېر شو

شنډ شول پلانونه زما

ختمه شوه هيله زما

١٢ خو زما ملګري شپې ته ورځ وايي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغوی دعوه کوي چې رڼا نژدې ده

خو زه پوهېږم چې پاتې کېږم په تیاره کې

۱۳ که د مړو دنیا ده یوازېنی هیله زما

که ویده شم په تیاره کې هلته

۱۴ که زه قبر ته خپل پلار ووایم

او هغه چینجي چې مې خوري

هغو ته مور او خپله خور ووایم

۱۵ نو چېرته ده زما دپاره هیله؟

ایا کولای شي څوک چې هغه ووینی؟

۱۶ ایا هیله به لاړه شي زما سره د مړو دنیا ته؟



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ایا شي به خاورې ټول ارمانونه زما؟

## خدای بدکارانو ته سزا ورکوي

۱ بیا بلدد چې د شوح شخه ؤ، ځواب ورکړ:

۲ ته به کله بس کوې خپلې خبرې؟

که ته شې غلی او غوږ ونیسې

نو مونږ به وکړای شو چې وکړو تا سره خبرې

۳ ایا ته فکر کوې چې مونږه یو د حیواناتو په شان؟

ایا ته فکر کوې چې بېشعوره یو مونږ؟

۴ ته په قهرېږې ولې او ټوټې ټوټې کوې ولې ځان؟

ایا دنیا دې پرېښودل شي ستا دپاره؟


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ايا هغه به وخوځوي غرونه چې قانع کړي تا؟

۵ په رښتيا څراغ به مړ شي د بدکاره انسان

د هغه لمبه به بيا ونه کړي رڼا

۶ وي به تياره د هغوی خېمو کې

او څراغ به مړ شي د هغوی دپاسه

۷ قدمونه قوي کمزوري شوي د هغوی

کوم نصيحت چې کړي هغه نورو ته

وبه غورځېږي د هغې په سبب

۸ ږدي پښې هغوی په جال باندې

او لوېږي په کنده کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ نبنلي په دام کې د هغوی پوندې

او تیلک یې کلک رانیسي

١٠ پټه لومه ورته ایښې ده په ځمکه باندې

او دام یې ایښی دی په لاره کې

١١ بلا وباسي انتظار هغوی ته له هرې خوا نه

او تعقیبوي هغوی قدم په قدم

١٢ لوږې له منځه وړی د هغوی قوت

افت راځي او انتظار وباسي چې هغوی ولویږي

١٣ په بدنونو یې خپرېږي ناروغي وژونکې

او خرابوي متې او پښې د هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ هغو کورونو نه شړل کیږي هغوی

چې اوسېدل په کې په امن سره

او مخامخ کیږي د مرګ سره

۱۵ وبه سوځیږي د بدکارانو کورونه

او په کورونو به یې اوري د ګوګړو باران

۱۶ هغوی به وي د هغو ونو په شان

چې یې وچیږي ریښې

او مړاوې کیږي د هغو څانګې

۱۷ شهرت ختمیږي د هغوی ځمکې د مخ نه

نه پاتې کیږي نور هغوی د هېچا په یاد کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ د دنیا نه شړل کیږي هغوی

د رڼا څخه تیارې ته غورځول کیږي هغوی

۱۹ هغوی نه لري هېڅ اولاده

او پاتې نه دی هېڅوک یې ژوندی

۲۰ د ختیځ نه تر لوېدیځه پورې

چې خبرېږي د هغوی د سرنوشت نه هرڅوک

پاتې کیږي هک حیران او له وېرې نه لړزیږي

۲۱ داسې به وشي د بدو خلکو سره

چې نه مني خدای

## د ایوب دفاع کوونکی ژوندی دی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱ بیا ایوب ځواب ورکړ:

۲ ځوروئ به مې ترڅو پورې

او ماتوئ به زما زړه په دې خبرو باندې؟

۳ تاسو کړی سپکاوی دی زما په څو څو ځلې

تاسو شرمیږئ هم نه چې کوئ داسې چلند راسره؟

۴ که ما کړی غلط کار هم وي

دررسولی يې څه زیان تاسو ته؟

۵ فکر کوئ تاسو چې يئ بهتر له ما نه

او زما تکلیفونه ګڼئ زما د ګناه ثبوت

۶ څو باید پوه شئ تاسو چې خدای کړې غلطي راسره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما ته يې ايښی دی دام چې مې راګير کړي

٧ زه اعتراض کړم د هغه په ظلم

خو نه نيسي غوږ راته څوک

غوږ نه نيسي څوک زما فرياد ته د کومک دپاره

نو نشته انصاف زما دپاره

٨ خدای راته لاره کې دېوال جوړ کړی او تېرېدلی نه شم

پټه کړې په تياره کې زما لار ده هغه

٩ هغه اخيستی دی عزت زما نه

او له منځه وړی يې شهرت دی زما

١٠ راغورځوي مې هغه له هرې خوا نه او زه به مړ شمه زر


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه وړي له منځه هيله زما لکه ونه چې راولوېږي له
ببېخه

١١ خدای په قهر او په غضب دی په ما

هغه چلند کوي زما سره د خپل دښمن په شان

١٢ هغه رالېږي خپل لښکر چې حمله وکړي په ما

هغوی کيندي مرچلونه او کلابندوي خېمه زما

١٣ خدای لېرې کړي دي خپلوان له ما نه

چې پېژندلم زه چا اوس يم پردی هغوی ته

١٤ زه پرېښی يم خپلوانو

او هېر کړی يم نژدې دوستانو

١٥ زما د کور مېلمانه او زما وينځې ما نه پېژني


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغوی نظر کې زه پردی شوی یمه

۱۶ کله چې غږ کوم خپل خدمتګار ته نه راکوي ځواب

چې ورته وکړمه زارۍ هم د کومک دپاره نه راکوي
ځواب

۱۷ زغملی نه شي زما ښځه بوی د خولې زما

او ورونه مې هم نه غواړي چې رانژدې شي راته

۱۸ ما ته په سپکه سترګه ګوري کوچنیان هم

او راپورې خاندي چې کله ویني ما

۱۹ راځخه کرکه کوي زما نژدې ملګري

ما چې د چا سره کوله مینه زما په ضد دي هغوی

۲۰ په ما کې نه دي پاتې څه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بې له پوستکي او هډوکو ښځه

زه تښتېدلی یم له مرګه په سختۍ سره

٢١ ای ملګرو زما وکړئ رحم په ما

ځکه زه وهلی یمه خدای وکړئ رحم په ما

٢٢ څوروئ مې ولې لکه د خدای په شان؟

تاسو چې راکړ دا عذاب ایا بس نه دی هغه؟

٢٣ کاشکې په یاد وساتې زما خبرې یو څوک

او هغه ولیکې په یو کتاب کې

٢٤ یا ولیکې تیږې باندې زما خبرې په اوسپنیز قلم

او داسې یې ولیکې چې پاتې شي تل


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ خو زه پوهېږم چې موجود دی خلاصوونکی زما

چې راځي به اخر چې دفاع وکړي زما

۲۶ حتی که چېرې له منځه یوسي

دا ناروغي زما د پوستکي

خو زه به ووینمه خدای په همدې بدن

۲۷ زه به وګورم هغه په خپله

او هغه به ووینم په خپلو سترګو

زه په ارمان یمه د هغې شېبې

۲۸ که تاسو وایئ څنګه به ورکړو مونږ هغه ته عذاب

ځکه هغه راوستی په خپل ځان باندې په خپله
تکلیف؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ نو باید ووېرېږئ د خدای له تورې

هغه توره چې نازلوي د خدای غضب

ترڅو پوه شئ چې وبه شي قضاوت

## بدکارانو ته سزا

۱ بیا صوفر چې د نعمات ښخه ؤ ځواب ورکړ:

۲ خفه کوې مې ای ایوبه ته

نور کولای نه شم صبر

زه یم مجبوره چې ځواب دې درکړم

۳ د اصلاح دپاره د سپکاوي ښخه دي ډکې خبرې ستا

خو زه پوهېږم څنګه درکړمه ځواب ستا


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۴ بې له شکه ته پوهېږې د پخوانيو زمانو راهيسې

چې انسانان کله پيدا شول په ځمکه باندې

۵ کاميابي د بدکارانو به وي لږې مودې دپاره

او خوشحالي د بېدينه خلکو به وي يوې شېبې دپاره

۶ کېدای شي لوی شي هغوی دومره چې تر اسمان ورسي

دومره شي لوی چې يې وربځو ته سرونه ورسيږي

۷ خو شي به ورک هغوی خپلو غايطه موادو په شان

چا چې پېژندل پخوا هغوی شي به حيران

او وايي به چې چېرته لاړل هغوی

۸ هغوی به ورک شي د يو خوب په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي به فنا لکه د شپې د رویا په شان

او لیدل کیږي به بیا هېڅکله نه

٩ کومو خلکو چې لیدلي يې وو هغوی وبه يې نه ګوري نور

بیا به يې ونه ګوري هېڅکله کورنۍ د هغوی

١٠ څه چې غلا کړي له غريبانو هغوی

اولادونه به يې ورکړي تاوان د هغوی

١١ وو ځوانان او غښتلي هغوی

خو بدل به شي په خاورې هغوی

١٢ هغوی اخلي له بدۍ نه ډېر خوند

او د ډېر وخته پاتې کیږي د دې خوند


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ تر ډېره وخته يې ساتي په خوله کې

د يو خوږ شي په شان

۱۴ خو ترخه کيږي خواږه د هغوی ګېډو کې

ترخه کيږي هغه لکه د مار د زهرو په شان

۱۵ څه شتمني چې خوړلې هغوی استفراق به يې کړي

خدای به راوباسي هغه د دوی له ګېډو نه هم

۱۶ بدو خلکو چې تېر کړي دي څه هغه دي لکه د زهرو په شان

دا هغوی وژني د وژونکي مار د چيچلو په شان

۱۷ پاتې به نه شي ژوندي تر هغه وخته پورې

چې دوی ووينې هغه سيندونه چې بهيږي په کې تېل د زيتون


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ووینې هغه ویالې چې بهیږي په کې شیدې او شات

۱۸ هیڅ به ترلاسه نه شي د دوی له زیاره څخه

او نه به خوند اخلي د خپلې شتمنۍ څخه

۱۹ ځکه چې کړی یې زیاتی په غریبانو او پریښې یې هغوی

او ویې نیول هغه کورونه چې ودان کړي وو بل چا

۲۰ هغوی تل وو حریصان او هیڅکله نه شول ماړه

نه به شي پاتې ورته هیڅ چې ترې خوند واخلي

۲۱ نه دي پاتې هیڅ شی چې دوی یې وخوري

خو اوس به رسیږي پای ته نیکمرغي د هغوی

۲۲ کله چې ورسیږي اخري حد د کامیابۍ ته هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بېچاره‌ګي به راشي او تباه کېږي به دوی

۲۳ پر پړده چې وکړي خوراک ځومره چې غواړي

خدای به ورکړي په خپل قهر او غضب سره سزا ورته

۲۴ کله چې وکړي هغوی هڅه چې وتښتي

د اوسپنې له تورې څخه

وبه لګېږي په برنجي غشي

۲۵ د بدنونو د هغوی چې راوباسي غشي

وینې ځځېږي به یې له ځلېدونکو ځوکو

او پیدا کېږي د مرګ وېره د هغوی زړونو کې

۲۶ له منځه لاړ به شي هر څه چې سپمولي هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

یو داسې اور چې د انسان په لاس بل شوی نه وي

سوځوي به هغوی د خپلې ټولې پاتې کورنۍ سره

۲۷ ښکاره کوي اسمانونه ګناه د هغوی

ورکوي ځمکه شهادت په خلاف د هغوی

۲۸ د خدای د قهر له امله

له منځه لاړه به شي ټوله شتمني د هغوی

۲۹ د بدو خلکو سرنوشت دا دی

کوم سرنوشت چې ورته خدای ټاکلی

## ایوب وایي چې بدکاره خلک نېکمرغه دي

۱ بیا ایوب ځواب ورکړ:


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۲ ونیسئ غوږ چې څه وایمه زه

دا ده هغه تسلي چې يې له تاسو غواړم

۳ ما پرېږدئ چې خبرې وکړم

او کله چې ورسيږي پای ته خبرې زما

بيا که غواړئ وهئ ملنډې په ما

۴ ده ګيله زما له خدايه، نه د خلکو څخه

ځکه خو يمه زه بې‌صبره

۵ وګورئ ما ته چې حيران شئ

کېږدئ خپل لاس په خپله خوله

۶ چې را په ياد کړم کله هغه پېښې چې په ما تېرې شوې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو له وېرې نه راځي لړزه مې په بدن باندې

٧ خدای پرېږدي ولې بد خلک چې ژوندي پاتې شي؟

ولې هغوی پرېږدي چې شي زاړه او قدرت يې زيات شي؟

٨ پيدا کيږي اولادونه او لمسي د هغوی

او پاتې کيږي ژوندي د هغوی تر لوېدو پورې

٩ د هغوی کورونه دي خوندي له وېرې

او نه ورکوي سزا هغوی ته خدای

١٠ غويان تکړه دي د هغوی

او غواګانې بچې زېږوي بې له تکليفه

١١ اولادونه د هغوی ځغلي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او کوي لوبې لکه د وریو په شان

۱۲ هغوی سندرې وايي د چمبو او ربابونو سره

او شپېلیو سره کوي نڅا هغوی

۱۳ تېروي بد خلک په نېکمرغۍ کې خپل ژوند

او په ارامۍ سره مړه کیږي بې له ستونزې څخه

۱۴ خو بیا هم بد خلک خدای ته وايي چې مونږ یوازې پرېږده

مونږ نه غواړو چې وپېژنو ستا لارې

۱۵ هغوی فکر کوي چې حاجت نشته د قادر مطلق د عبادت

هغه ته نشته کومه ګټه په دعا کولو

۱۶ هغوی وايي چې نېکمرغه یو مونږ په خپل قوت


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو طريقه د هغوی د فکر زه منلی نه شم

١٧ ايا ثراغ کله مړ شوی د بدکاره خلکو؟

ايا مخامخ شوي هغوی د کوم افت سره؟

ايا خدای کله په قهر سره ورکړې سزا بدکاره خلکو ته؟

١٨ ايا هغوی وړي داسې باد دي لکه ښنګه چې وړي بوس؟

يا يې توفان کې هغوی وړي دي د ګرد په شان؟

١٩ ای ملګرو تاسو وايئ چې ورکوي خدای سزا

اولادو ته د پلرونو د ګناه په خاطر

خو زه وايم خدای دې ورکړي سزا په خپله ګناهکارانو ته

نو پرېږده چې ويې ويني خوند هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ پرېږده چې ووېني ګناهکاران خپله سزا

پرېږده چې ووېني د قادر مطلق غضب

۲۱ پروا يې نه لري چې څه تېرېږي په اولادونو يې

وروسته له دې چې مړه کيږي هغوی

۲۲ ايا کولای شي څوک چې خدای ته وکړي لارښوونه

هغه چې کوي قضاوت د هغو خلکو چې لري لوړ
مقامونه؟

۲۳-۲۴ پاتې کيږي ځينې خلک تندرست د مرګ تر ورځې پورې

په خوشحالۍ او اسانۍ سره مړه کيږي هغوی

بدنونه د هغوی قوي او پاتې کيږي روغ

۲۵ نور خلک مړه شي د ماتو زړونو سره


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغوی وانخیست خوند د نېکمرغه ژوند څخه

۲۶ خو دواړه مړه کېږي او ښخېږي یوشان

تول پټېږي په چنجیو کې

۲۷ ای ملګرو، زه پوهېږم چې څه فکر کوئ تاسو

زه خبر یم دسیسه جوړوئ زما په وړاندې

۲۸ تاسو به کړئ پوښتنې کورونه چېرته دي د هغو لویو خلکو؟

کورونه د هغو خلکو چې کول به یې بد بد کارونه؟

۲۹ ایا تاسو پوښتنه نه ده کړې هغو خلکو نه چې کړي سفر

هغه خبرونه مو نه دي اورېدلي چې راوړي هغوی؟

۳۰ چې د مصیبت په ورځ به وساتل شي بدکاره خلک


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

د خدای د قهر په ورځ به وژغورل شي هغوی له بلا
خخه

٣١ هېڅوک نشته چې تور ولګوي په بدکارانو باندې

نشته څوک چې هغوی ورسوي خپلو اعمالو په سزا
باندې

٣٢ چې وړل کیږي هغوی کله هدیرې ته

ښه خارل شویو مزارونو ته خپل

٣٣ په زرګونو خلک اخلي برخه په جنازه کې د دوی

او حتی خاوره هم پرېوځي په نرمۍ سره

د هغوی په جسدونو باندې

٣۴ نو څنګه تاسو کولای شئ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې راکړئ تسلي خوشې خبرو باندې؟

دروغ هر ځواب دی ستاسو

## درېمه وينا

## (۲۲:۱ – ۲۷:۲۳)

# اليفاز وايي چې ايوب بايد خدای ته رجوع وکړي

۱ بيا اليفاز چې د تيمان د ښار څخه ؤ، ځواب ورکړ:

۲ ايا داسې څوک شته حتی عقلمن تر ټولو

چې خدای ته ورسوي کومه ګټه؟

۳ ايا ستا ښه کارونه خوشحالوي مطلق قادر؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یا بې‌عیبي ستا هغه ته رسوي څه ګټه؟

۴ ایا خدای د دې په خاطر رټي او محاکمه کوي تا

ځکه ویرېږې ته د هغه څخه؟

۵ نه، دا ځکه چې تا کړې ډېره ګناه ده

دا نتیجه ده ستا د ټولو بدو کارونو

۶ خپل پوروړي ورور څخه تا

په ګرو واخیستل کالي د هغه

تا پرېښنبود هیڅ شی ورسره چې یې واغوندي

۷ تا ورنه کړلې اوبه ستړو ته

تا ورنه کړل خواړه وږیو ته


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٨ د خپل قدرت او خپل مقام څخه دې کار واخيست

د دې دپاره چې ونيسي ټوله ځمکه

٩ تا نه يوازې انکار وکړ د مرستې نه د کونډو سره

او تا لوټ کړل يتيمان هم او ودې کړ بد چلند ورسره

١٠ نو اوس دامونه دي ستا ګردچاپېره

راځي په تا باندې ناڅاپه وېره له هرې خوا نه

١١ دومره تياره شوه چې ته ليدلی نه شې هېڅ

او ډوبوي دې سېلابونه

١٢ په اسمانونو کې دی خدای

له جګو جګو ستورو پورته دی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چېرته چې هر څه شي ليدلی هغه

۱۳ او بياهم وايي خدای په څه پوهيږي؟

هغه دی پټ په تورو وريځو کې

څنګه کولای شي هغه چې قضاوت وکړي

په مونږ باندې؟

۱۴ فکر کوې چې تورې وريځې

به کړي سترګې د هغه پټې

چې اسمان کې وهي کله قدمونه هغه

۱۵ ايا لرې ته اراده چې شي روان په هغو لارو

چې پرې تللي بدکاران دي؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ هغوی مړه شول کله چې وو لا ځوانان

سېلابونو یووړ د ژوند تهداب د هغوی

۱۷ دا هغه خلک وو چې ویل یې خدای ته

چې مونږ یوازې پرېږده

هېڅ نه شي کولای قادر مطلق په مونږ باندې

۱۸ او بیا هم هغه خدای ؤ چې کړل یې نېکمرغه هغوی

خو زه نه پوهېږم په خیالونو د هغو بدکارانو

۱۹ ښه خلک وي خوشحاله او بې ګناه خلک خاندي

چې کله ګوري چې بد خلک مومي سزا

۲۰ هغوی به وایي چې وړل کیږي به له منځه بدکاران


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او اور سوځوي هر څه چې پاتې کيږي ترې

٢١ اوس ايوبه ته د خدای سره پخلا شه

او ورسره مه کړه چلند لکه دښمن په شان

بيا به درکړي برکتونه هغه

٢٢ کړه قبولې لارښوونې د هغه

په زړه کې ځای ورکړه د هغه خبرو ته

٢٣ که ته وکړې رجوع مطلق قادر ته

او ستا په کور کې چې کيږي ټول بد کارونه بس کړې

٢٤ که لېرې وغورځوې خپل سره زر دې

او سيند ته وغورځوې خپل قيمتي سره زر


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ پر پړده چې وي ستا سره زر قادر مطلق

پر پړده چې وي هغه د ستا دپاره د سپينو زرو انبار

۲۶ نو بيا به په مطلق قادر باندې کوې توکل

او شې به پوه چې درکړې خوشحالي ده خدای

۲۷ کله چې ته کوې دعا کړي به قبوله ستا دعا هغه

او ته به پوره کړې خپل نذرونه

۲۸ په هر کار کې بريالی به يې ته

او ستا په لاره کې ځليږي به رڼا

۲۹ ذليل کوي خدای مغرور خلک

او عاجزان ژغوري


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۰ هغه به وژغوري تا که بېګناه يې ته

که ستا عمل وي سم

## ايوب د خدای په لټه کې دی

۱ بیا ایوب ځواب ورکړ:

۲ زه بیاهم سخته ګیله کوم له خدایه

پاتې کېدای نه شمه غلی زه زګېروي کومه

۳ زه پوهېدلی کاشکې چې چېرته پیدا کړم هغه

او پوهېدلی په دې چې ځنګه ورشمه د هغه تخت ته

۴ ما بیان کړې به وای خپله دعوه هغه ته

خپلې دفاع دپاره به مې ټول دلیلونه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وای وړاندې کړي ورته

۵ بیا به پوه شوی وای زه چې هغه به راکړي څه ځواب

او څه چې غوښتل یې ما ته وواېي

۶ ایا خدای به اخیستی وای کار د خپل ټول قوت

څخه په ما باندې؟

نه، هغه نیولی به وای غوږ زما خبرو ته

۷ زه یم صادق که مې ویلی شوای د خدای سره دلیل

زما قاضي به بې‌ګناه اعلان کړی وای زه د تل دپاره

۸ لټولی مې دی خدای ختیځ کې خو هلته نشته

پیدا مې نه کړ کله چې ومې لټاوه لوېدیځ کې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۹ هغه کوي کار د شمال خواته خو زه يې ليدلی نه شم

هغه تاوېږي د جنوب خواته خو زه يې ليدلی نه شم

۱۰ خو چېرته چې ځم خدای دی خبر ورڅخه

چې ازمايي مې کله نو سوچه وځم د سرو زرو په شان

۱۱ په وفادارئ سره يم تللی د هغه په لاره

يو خوا او بل خوا شوی نه يم له هغې لارې

۱۲ ما همېشه دي په ځای کړي د هغه حکمونه

ګرځمه زه د هغه رضا پسې

نه ګرځم زه خپلو غوښتنو پسې

۱۳ نه بدلېږي خدای هېڅکله


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ثوک یې کولای نه شي مخالفت

نه یې کولای شي ثوک ممانعت

۱۴ کړي به ترسره اراده خپله هغه زما دپاره

هغه ثه چې دی یوازې یو د هغه ډېرو پلانونو ثخه

۱۵ نو ځکه لړزېږمه زه د هغه په وړاندې

کله چې فکر کوم د دې په هکله نو وېرېږمه زه

۱۶ له منځه وړی زما همت دی خدای

او سخت وېروي ما قادر مطلق

۱۷ که ثه هم زه یم ړوند کړی تیارې

خو بیاهم نه پاتې کېږمه چوپ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ولې بدکارانو ته سزا نه ورکول کېږي؟

د ایوب د خبرو دوام

١ قادر مطلق ولې وخت نه ټاکي د بدکارانو قضاوت دپاره
او د عدالت یوه ورځ هغو دپاره چې هغه پېژني؟
٢ بدکاره خلک بدلوي د ځمکې حدونه
چې ترلاسه کاندي نوره ځمکه
غلا کوي هغوی پسونه
او یو ځای کوي یې خپلو رمو سره
٣ هغوی اخلي خره د یتیمانو څخه
او په ګرو اخلي غویی د کونډو څخه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ترځو ادا کړي خپل پوروونه

۴ هغوی ترپښو لاندې کوي د غريبانو حقوونه

او حاجتمندان مجبوروي دې ته چې پټ کړي ځانونه

۵ خو غريبان د وحشي خرو په شان

ګرځي خوړو پسې وچه صحرا کې

يوازې په دښته کې موندلی شي

خواړه اولادونو ته خپل

۶ هغوی مجبور دي چې وکړي لو د پرديو په پټيو کې

او ټول کړي پاتې شوي انګور د بدکارانو په تاکونو کې

۷ نشته هغوی سره څه شی چې يې واغوندي د شپې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نشته څه چې هغوی وساتي يخنۍ نه

۸ لمدوي هغوی کوم بارانونه چې وريږي غرو کې

او پناه اخلي د ګټونو منځ کې

۹ له کونډو اخلي ماشومان بد خلک

او د پورونو ورکولو په خاطر اخلي په ګرو

اولادونه د غريبانو څخه

۱۰ خو مجبور دي غريبان چې وګرځي بې له کاليو

هغوی مجبور دي چې لو وکړي د غنمو په وږيو ګېډو

۱۱ د زيتونو نه وباسي هغوی تېل

او شراب وباسي د انګورو څخه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو ګرځي ترې هغوی په خپله

١٢ کړي زګېروي په ښارونو کې چې دي د مرګ په حال کې

او ټپيان کړي فريادونه د کومک دپاره

خو خدای نه کوي پام دعاګانو د هغوی ته

١٣ شته داسې خلک چې دي منکر له رڼا

هغوی پرې نه پوهيږي او نه ځي په هغه لاره

١۴ قاتل راپاځيږي د سباوون نه مخکې

او وځي چې ووژني غريبان او محتاجه خلک

او کوي غلا هغه په شپه کې

١۵ زناکار کړي انتظار د تيارې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

پټوي هغه خپل مخ چې يې ونه پېژني څوک

۱۶ غله اوړي په شپه کې کورونو ته چې وکړي غلا

خو د ورځې له خوا هغه پټيږي او ساتي ځان له رڼا

۱۷ هغوی ټول وېرېږي د ورځې له رڼا نه

خو عادت دي هغوی د وېروونکې تيارې سره

## د بدکارانو سرنوشت

۱۸ بدکاران وړي سېلابونه

راولي خدای د هغوی په ځمکه لعنتونه

نور په کار نه راځي د هغوی تاکونه

۱۹ لکه څنګه چې ورکيږي په ګرمۍ او وچکالۍ کې واوره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې ورکيږي د ژوندون له دنيا ګناهکاران

۲۰ خپلو ميندو هم هېر کړي هغوی

هغوی خوړلي دي چينجيو

څوک به نه يادوي نور هغوی

بدکاران دي رالوېدلي لکه د ونو په شان

۲۱ دا ځکه چې کوي بد چلند هغوی د بې‌اولاده ښځو سره

او نه کوي مهرباني هغوی د کونډو سره

۲۲ په خپل قوت سره خدای له منځه وړي زوروران

پورته کوي خدای خپل لاس او مړه کيږي بدکاران

۲۳ کېدای شي خدای ورکړي هغوی ته په امن کې ژوند


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو همېشه هغوی ساتي خپلې څارنې لاندې

۲۴ بريالي کيږي هغوی د څه مودې دپاره

خو مړاوي کيږي بيا د هرزه بوټو په شان

چې پرې شوی وي د غلو دانو د هغه وږي په شان

۲۵ ايا منکرېدای شي څوک له دې خبرې؟

ايا ثابتولی شي څوک غلطې زما خبرې؟

# انسان د خدای په نظر کې نېک نه دی

۱ بيا بلدد چې د شوح ښخه ؤ، ځواب ورکړ:

۲ خدای قدرتمن دی او بايد ټول ورڅخه ووېرېږي

هغه په سوله کې ساتي خپله اسماني پاچاهي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۳ ايا شمېرلی شي ځوک هغه فرښتې چې کړي خدمت د هغه؟

ايا شته داسې ځای چې نه ځلیږي هلته نور د خدای؟

۴ ايا کېدای شي ځوک وي نېک د خدای نظر کې؟

څنګه کېدای شي چې انسان پاک وي؟

۵ حتی سپوږمی نه ده روښانه د هغه نظر کې

نه يې ستوري په نظر کې پاک دي

۶ نو بيا انسان څه شی دی

چې بې‌ارزښته دی لکه چينجي په شان؟

څه ارزښت لري ژوند د انسان د خدای نظر کې؟

## ايوب د خدای لويي بيانوي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ بیا ایوب په کنایه کې بلدد ته ځواب ورکړ:

٢ ما سره تا وکړله څومره لویه مرسته

زه چې یمه بېچاره او کمزوری سړی

٣ کوې ته ما ته څومره ښه نصیحت

چې ناپوهه یم زه

او شریکوې راسره خپله پوهه

٤ تا سره چا وکړله مرسته چې داسې خبرې وکړې؟

دې ته تشویق کړلې چا چې داسې خبرې وکړې؟

٥ ارواحګانې د مړو لړزیږي

هغو اوبو کې چې دي د ځمکې لاندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۶ د مړو دنیا په ډاګه ښکاري خدای ته

هیڅ شی نشته چې کړي پټه هغه

د هغه له نظره څخه

۷ خپور کړ خدای اسمان فضا کې

او خالي فضا کې یې کړه ځوړنده ځمکه

۸ ډکوي وریځې له اوبو څخه خدای

او ساتي هغه چې ونه چوي له دروندوالي څخه

۹ پټوي ټوله سپوږمۍ هغه

او خپروي وریاندې خپله وریځ

۱۰ هغه جوړه کړه فضا چې جدا کړي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوبه د ځمکې د اسمان څخه

او بېله کړې له تیارې څخه رڼا ده هغه

۱۱ د اسمان ستنې لړزیږي

او رپیږي د هغه په حکم باندې

۱۲ په خپل قوت هغه ارام کړ بحر

او په خپله پوهه یې تباه کړله بحري بلا

۱۳ دا تنفس ؤ د هغه چې یې کړ صاف اسمان

او ؤ لاس د هغه چې یې وواژه بنامار چې تښتېده

۱۴ خو دا یوازې یوه برخه ده د هغه د کارونو

دا یوازې ګونګوسې دي چې اورېدلې دي موږ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

څوک پوهېدای شي چې په رښتیا سره

څومره قدرتمن دی خدای؟

## ایوب یوځل بیا د خپل ځان نه دفاع کوي

۱ بیا ایوب خپلو خبرو ته دوام ورکړ او ویې ویل:

۲ زه خورم قسم په ژوندي خدای

چا چې اخیستی زما حق دی

او تریخ کړی قادر مطلق دی زما ژوند

۳ چې ترڅو پورې ژوندی یمه زه

او خدای راکوي به راته ساه

۴ هېڅکله رابه نه شي بده خبره زما په ژبه باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هېڅکله رابه نه شي دروغ زما په خوله باندې

۵ وبه نه وایم هېڅکله داسې چې کوئ سمه خبره تاسو

زه به ټينګار کوم تر مرګه خپلې بې‌ګناهۍ باندې

۶ له دې دعوې نه به لاس وانخلمه چې په حقه یمه

پاک دی وجدان زما زه به وایمه دا ترڅو ژوندی یمه

۷ څوک چې کوي مخالفت راسره او زما په ضد جنګيږي

هغوی دې ومومي سزا د بدکارو او ګناهکارو په شان

۸ پاتې کيږي څه امید بې‌دینه خلکو سره

کله چې اخلي خدای ژوند د هغوی؟

۹ کله چې راشي پرې تکلیفونه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ایا خدای به واوري فریادونه د هغوی؟

۱۰ باید غوښتلی وای هغه خوښي هغوی

چې ورکوي يې قادر مطلق

باید کړې وای دوامداره دعا خدای ته هغوی

۱۱ راځئ چې درکړم زه تعليم تاسو ته

چې څومره لوی دی قدرت د خدای

او هيڅ به پټ نه کړمه د قادر مطلق خدای په هکله

۱۲ خو تاسو ليدلي دا هر څه په خپلو سترګو

نو بيا ولې کوئ خوشې خبرې؟

۱۳ دا به وي سرنوشت د بدکارانو خلکو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ټاکلی ورته مطلق قادر دی

۱۴ دا کېدای شي چې پیدا شي ډېر زامن د هغوی

خو هغوی به ووژل شي ټول په جنګ کې

او اولادونه به یې هېڅکله ماړه نه شي په ګېډه

۱۵ څوک چې پاتې شي ژوندي مړه به شي په ناروغیو

د هغوی کونډې به هم ونه کړي ویر د هغوی په مړو

۱۶ کېدای شي ولري د خاورو په شان ډېر سپین زر

او کالي ولري د ضرورت نه زیات

۱۷ خو کوم نېکان به واغوندي هغه کالي

کوم بېګناه خلک به ووېشي هغه سپین زر خپل منځ
کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ بدکاران ودانوي کورونه د غنمو جال په شان

داسې کمزورې وي لکه جونګړې په شان

۱۹ هغوی کېدای شي چې ویده شي شتمنۍ سره

خو کله چې ویښ شي هغوی

نو شتمني به یې وي له لاسه تللې

۲۰ ورباندې رابه شي سخته وېره لکه سېلاب په شان

هغوی به باد یوسي په شپه کې

۲۱ د ختیځ باد به یوسي هغوی

شي به نابود هغوی خپلو کورونو نه

۲۲ دا باد به الوزي هغوی باندې په بېرحمۍ سره


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې کله کړي هغوی د تېښتې کوښښونه

٢٣ کله چې منډې وهي دوی باد شپېلاقونه وهي

وهي ملنډې په هغوی باندې

## د حکمت دپاره هڅه

١ بې له شکه داسې معدنونه شته

چې راویستل کیږي سپین زر ورڅخه

داسې ځایونه شته چې چاڼ کیږي سره زر په کې

٢ راویستل کیږي اوسپنه له ځمکې څخه

او راویستل کیږي مس له تیږو څخه

٣ په تیارو کې معدنچیان راولي رڼا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لټوي هغوی د ځمکې د ټولو نه ژور ځايونه

او توره تياره کې کيندي ګټونه

۴ هغو ځايو نه لېرې چې څوک اوسيږي په کې

يا ايښودل کيږي پښه د انسان هلته

هغوی وباسي سوري په معدنونو کې

هلته يوازې کړي هغوی کارونه

ځوړنديږي په رسيو باندې هغوی په معدن کې

۵ ترلاسه کيږي خواړه له ځمکې

خو هماغه ځمکه وي د هغو لاندې

ټوټې ټوټې شي ټول او ځي له منځه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ دي لاجورد د ځمکې تيږو کې

او دي سره زر د هغې خاوره کې

۷ هيڅ باز نه ويني هغه لارې

چې دي تللې معدنونو ته

او تېپوس نه الوزي د هغو دپاسه

۸ هيڅ زمرى يا بل خونخوار ځناور

نه ځي په هغو لارو باندې

۹ معدنچيان کيندي کلک کلک ګټونه

له بېخه وباسي هغوى غرونه

۱۰ سورې کوي چې هغوى کله ګټونه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کشفوي قیمتي تیږې

۱۱ هغوی کیندي د سیندونو سرچینې

او څه چې پټ وي ښکاره کوي هغه

۱۲ خو موندل کیږي حکمت چیرته

او زده کیږي پوهه چیرته؟

۱۳ نه موندل کیږي حکمت د انسانانو منځ کې

نه پوهیږي هېڅوک د هغه په رښتیني ارزښت

۱۴ ژور ژور بحرونه او دریابونه وایي

چې موندل کیږي نه حکمت هلته

۱۵ نه راوړل کیږي لاسته هغه په سرو زرو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یا اخیستل کیږي نه په سپینو زرو باندې

۱۶ برابریږي نه د هغه سره قیمتي سره زر

یا تر ټولو ښه عقیق او لاجورد

۱۷ د سرو زرو نه هم زیات دی د حکمت ارزښت

هم دی زیات د سرو زرو له ګلدان او قیمتي تیږو نه

۱۸ د مرجان یا د بلور یا د یاقوت نه هم

زیات دی قیمت د حکمت

۱۹ تر ټولو ښه زیږ یاقوت او بهترین سوچه سره زر

پرتله کیږي نه د حکمت له قیمته سره

۲۰ نو چېرته ده بیا د حکمت سرچینه؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زده کولای شو مونږ پوهه چېرته؟

۲۱ هېڅ مخلوق هغه ليدلی نه شي

د هوا مرغه يې هم ليدلی نه شي

۲۲ تباهي او مرګ وايي چې

اورېدلي مونږ يوازې ګونګوسې

چې حکمت چېرته دی

۲۳ يوازې خدای ته ده معلومه د حکمت لاره

هغه پوهېږي چې موندل کېږي حکمت چېرته

۲۴ ځکه چې ويني هغه ټوله دنيا

هغه ويني هر څه چې دي د ځمکې په مخ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ کله چې خدای ورکړ قوت باد ته

او ویې ټاکله اندازه د باران په وریځو کې

۲۶ کله چې خدای وکړله پریکړه

چې باران به اوري چېرته

او ویې ټاکله د برېښنا د حرکت لاره

۲۷ بیا ولیده حکمت هغه

ویې ازمایه ارزښت د هغه

او تصدیق یې کړ دا

۲۸ وویل خدای مونږ انسانانو ته

د دې دپاره چې تاسو اوسئ عقلمن


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باید وویرېږئ له څښتنه څخه

د دې دپاره چې شئ پوه تاسو

باید له بدو نه وساتئ ځان

## د ایوب وروستنی وینا

## (۲۹:۱ – ۳۱:۴۰)

## د ایوب پخواني برکتونه

۱ ایوب بیا خبرې وکړلې او ویې ویل:

۲ کاشکې بیا شي زما ژوند لکه پخوا په شان

کله چې خدای کاوه نظر راباندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۳ هغه وخت رڼا کوله زما لاره خدای

چې په تیاره کې وم روان وربانديې

۴ په هغو ورځو کې نېکمرغه وم زه

راسره مل ؤ خدای او کړله ساتنه يې زما د کور

۵ ما سره مل ؤ هغه وخت قادر مطلق

او رانه چاپېره وو ټول اولادونه زما

۶ زما غواګانو او وزو به ورکولې پرېمانه شيدې

او د ګټانو نه به رابهېدل د زيتونو تېل

۷ چې سره کښېناستل به کله سپينږيري د ښار

زه کښېناستم به د هغوی په منځ کې



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٨ چې ليدلم به ځوانانو يو خوا کېدل به هغوی

زما درناوي دپاره به ودرېدل سپينږيري

۹-۱۰ کله چې ما کولې خبرې نو شول به غلي مشران

حتی تر دې چې غلي کېدل به هم لوی لوی کسان

۱۱ هرچا چې زه ليدلم يا اورېدل به يې زما په هکله

صفتونه به يې کول د کړو وړو زما

۱۲ چې غريبانو به کولو فريادونه کله ورسره ما کوله مرسته

او ما کوله مرسته هغو يتيمانو سره چې څوک يې نه
لرل

۱۳ هغه خلک چې وو د مرګ په حال کې ما ته يې دعا کوله

او زما د مرستې سره به کوله خوشحالي کونډو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ عدالت مې واغوست لکه کاليو په شان

او انصاف مې لکه چپنې او لونګۍ په شان

۱۵ ومه ړندو ته زه د سترګو په شان

ومه ګوډانو ته د پښو په شان

۱۶ زه غريبانو ته وم لکه د پلار په شان

ما کوله دفاع د پرديو د حقونو څخه

۱۷ ما کړلې ماتې د ظالمانو ژامې

او مظلومان مې وژغورل د هغوی د غاښونو نه

۱۸ ما هميشه لرله تمه چې اوږد ژوند به تېر کړم

او په تسلۍ سره به مړ شم په خپل کور کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ زه وم د هغې ونې په شان

چې تل رسیږي یې ریښې اوبو ته

او لمدیږي څانګې یې په پرخه باندې

۲۰ هرچا کوله تل ستاینه زما

او هېڅ کمېدلو نه قوت زما

۲۱ کله چې ما کاوه نصیحت نو خلک به شول غلي

او زما خبرو ته به یې غوږ نیوه په غور سره

۲۲ کله چې پای ته رسېدلې به خبرې زما

هغوی به نه ویل څه

زما خبرې لګېدلې په هغوی باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

باران د څاڅکو په شان

۲۳ هرچا کاوه به هرکلی زما د خبرو

لکه چې ښنکه بزګران کړي پسرلي کې د باران هرکلی

۲۴ کله چې تور وو د هغوی زړونه ما موسکا کړه ورته

هغوی خوشحاله وو زما په ورین تندي باندې

۲۵ ما مسوولیت واخیست په غاړه او ومې کړې پرېکړې

لکه ښنکه چې پاچا کوي مشري د عسکرو خپلو

ما کوله د هغوی مشري

او کله چې وو هغوی په غم کې

ما ورکوله تسلي ورته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د ايوب اوسني کړاوونه

د ايوب د خبرو دوام

١ خو اوس ما نه کشران وهي ملنډې په ما
نه وو لايق د دوی پلرونه چې وکړي مرسته
د پسونو په ساتلو کې زما د سپيانو سره
٢ وه بېکاره د هغو سړيو ډله
وو کمزوري او کولای يې نه شو کار زما دپاره
٣ هغوی وو دومره غريبان او وږي
چې خوړلې به يې وچې ريښې په شپه کې
په وحشتناکه او خوشې ځايونو کې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۴ هغوی راویستل د دښتې بوټي او خوړل به یې

حتی خوړلې یې بېخونده ریښې د جارو د بوټي

۵ هرچا شړل هغوی او وهلې یې چیغې په هغوی باندې

لکه څنګه چې هغوی وهي چیغې په غلو باندې

۶ هغوی مجبوره وو چې واوسي په خوړونو کې

او سوریو کې د ګړنګونو په څنګونو کې

۷ هغوی کوله انګولا بیدیا کې د حیواناتو په شان

او یو ځای یې اخیستله پناه د اغزیو د بوټو لاندې

۸ د بېکاره او بېنومه خلکو په شان

او وو شړل شوي له وطنه هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٩ راپورې خاندي اوس ماشومان د هغوی

او سپکاوی مې کوي په سندرو کې

١٠ هغوی کوي له ما نه کرکه

او لېرې ساتي خپل ځانونه له ما

پرته له دې چې راشي او تو کړي لیاړې زما په مخ

١١ اوس چې کمزوری او بیچاره کړی یم خدای

ډېر په قهر دي هغوی او بېادبي کوي زما

١٢ کوي حمله د بدکارانو ډله ما باندې

ما ځغلوي هغوی

تیاری نیسي هغوی چې ما له منځه یوسي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ هغوی مخه نیسي زما د تېښتې

او هڅه کوي چې تباه کړي ما

نشته هېڅوک چې ونیسي مخه د دوی

۱۴ هغوی حمله کوي ناڅاپه په ما باندې

کله چې ووینې چې پروت یمه په ځمکه باندې

راپرېوځي هغوی ما باندې

۱۵ سخته وېره ده راغلې په ما باندې

باد مې یووړلو عزت

او نېکمرغي مې شوله تېره لکه د ورېځې په شان

۱۶ اوس نژدې شوی یمه مرګ ته زه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په ما راغلې د تکلیف ورځې دي

۱۷ ټول هډوکي مې خوږېږي د شپې

هېڅکله نه ورکېږي درد زما

۱۸ خرابوي زما پوستکی خدای

او زندۍ کوي مې چې شم مړ

۱۹ غورځولی یم په خټو کې هغه

او زه شوی یمه لکه د خاورو او ایرو په شان

۲۰ تا ته غږ کوم ای خدایه خو ځواب نه راکوې ته

کله چې کړمه دعا ته راته نه کوې پام

۲۱ ته کړې ظلم په ما باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ته ځوروې مې په خپل ټول قدرت

۲۲ ته پرېږدې چې باد مې يوسي لېرې

په سخت توفان کې رغړوې مې ته

۲۳ زه پوهېږم چې ما به بوځې د مړو دنيا ته

هغه ځای چې ټاکل شوی دی ټولو دپاره

۲۴ ولې ته د مرستې نه انکار کوې د محتاج کس

چې کله کړي هغه فرياد د مصيبت په وخت کې؟

۲۵ ايا ونه ژړل ما د هغو خلکو په خاطر چې وو تکليف کې؟

ايا ومې نه سوځېده زړه په هغو خلکو باندې چې وو
محتاج؟

۲۶ زه په ارمان وم د خوشحالۍ او رڼا


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو په ځای یې راغلل تکلیفونه او تیاره

۲۷ زما زړه دی ناارامه او پرېشانه

هره ورځ مې ده له ستونزو ډکه

۲۸ ګرځم تیارې کې رڼا نشته د لمر

ودرېږم زه د خلکو منځ کې او کوم زارۍ مرستې دپاره

۲۹ زه یم په شان لکه ورور د سورلنډیانو

او ملګری یم د شترمرغانو

۳۰ زما پوستکی دی تور شوی او غورځېږي

سوځي له تبې مې هډوکي د بدن

۳۱ بدل شوی دی په غم زما د رباب ساز


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او له ژړا نه ډک دی زما د شپېلۍ اواز

## د خپلې بېګناهۍ ثخه د ایوب وروستنی دفاع

١ ما خوړلی قسم د خپل ځان سره

چې هېڅ به نه ګورمه پېغلې ته په بده سترګه

٢ ما سره څه به وکړي مطلق قادر؟

خدای به څنګه راکړي زما د کړو وړو بدله؟

٣ تباهي او افتونه راولي هغه

په هغو خلکو باندې چې کوي بد کارونه

٤ زه چې کومه هر کار ترې خبرېږي هغه

پورته کوم چې هر قدم هغه یې ګوري


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۵ خورمه قسم چې زه نه یم تللی په غلطه لاره

او هڅه مې نه ده کړې چې بل څوک وغولوم

۶ پر بړده چې مې وتلي خدای د انصاف په تله

او هغه به ووینې چې څومره بې‌ګناه یمه زه

۷ که زه وګرځم له سمې لارې

که مې زړه لاړ شي هغه څه پسې چې سترګې يې غواړي

یا که په ګناه ککړ شي زما لاسونه

۸ نو بیا پر بړده چې له منځه لاړ شي زما فصلونه

یا دې بل څوک وخوري هغه خواړه چې کرمه یې زه

۹ که زړه مې وړی وي د بل چا ښځې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ما په پټه وي ایستلی انتظار په دروازه کې د هغې

۱۰ نو بیا پرېږده چې زما ښځه هم د بل شي

او ورسره خملي نور سړي

۱۱ ځکه چې دا به وي له شرمه ډک کار

او سزا به راکړل شي د قاضي له خوا نه

۱۲ وي به دا د تباه کوونکي او دوزخ د اور په شان

چې به وسوځوي ټوله شتمني زما

۱۳ چې کله کوله ګیله زما خدمتګار له ما نه

ما به نیوه ورته غوږ

او ما کولو به چلند ورسره د انصاف له مخې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ که مې کړي نه وای داسې

نو څنګه به زه مخامخ شوی وای د خدای سره؟

چې راتله کله زما د قضاوت دپاره

ما به ویلي ورته څه وای؟

۱۵ هماغه خدای چې زه یې کړمه پیدا

خدمتګاران یې زما هم کړل پیدا

۱۶ ما هېڅکله کړی نه دی انکار

د غریب سره له مرستې نه

پر بېښودلې مې هېڅکله نه دي کونډې

چې وکړي ژوند نااميدی کې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١٧ نه مې پرې ايښي يتيمان چې وږي وګرځي

زما د ډوډۍ خوړلو وخت کې

١٨ ځکه ما پام کړی دی د ځوانۍ له وخت نه

په يتيمانو لکه د پلار په شان

او پام مې کړی دی ټول عمر په کونډو باندې

١٩ ما به چې کله وليدلو محتاج

او دومره غريب چې اخيستلی به يې نه شول کالي

٢٠ ما ورکول هغه ته خپلو پسونو د وړيو کالي

چې په کې ګرم اوسي

بيا به د زړه له کومي هغه کوله ستاينه زما


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ کله چې ما درلود قدرت په محکمه کې

که پورته کړی مې وي لاس په یتیم

۲۲ نو شي دې مات زما لاسونه

هغه دې پرېکړل شي زما له اوږو

۲۳ ځکه وېرېږم زه د خدای د تباهۍ نه

او زه وېرېږم د هغه له لويۍ

او نه شم کولای داسې کار

۲۴ تکیه مې نه ده کړې هېڅکله په شتمنۍ باندې

۲۵ او نه مې کړی دی غرور خپلو سرو زرو باندې

۲۶ ما هېڅکله نه دی کړی عبادت د لمر چې لري ځلا


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نه مې کړی عبادت دی د سپوږمۍ چې لري ښکلا

۲۷ بې‌لارې شوی نه یم زه چې وکړم عزت د هغو

او اوچت کړي مې لاسونه ورته د عبادت دپاره

۲۸ که داسې کړی وای ما نو باید راکړل شوې وای

سزا د قاضي له خوا نه

ځکه دا انکار دی له خدای تعالی څخه

۲۹ خوشحاله شوی نه یم هېڅکله زه

چې کله ستونزه راتله په دښمنانو زما

خوشحاله شوی نه یم چې کله هغوی باندې راتله افت

۳۰ ما هیڅ نه ده کړې داسې ګناه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې وغواړم د هغوی د مرګ دعا

۳۱ ټول هغه خلک چې کړي کار زما دپاره

هغوی پوهېږي چې ما کړی د پردیو هرکلی همېشه

۳۲ هېڅ مسافر مجبوره نه ؤ چې شپه تېره کړي کوڅه کې

ځکه د دوی په مخ وه خلاصه زما د کور دروازه

۳۳ نور خلک هڅه کړي چې پټ کړي ګناهونه خپل

خو نه پټومه زه هېڅکله خطاګانې خپلې

۳۴ وېرېدلی نه یم هېڅکله د خلکو له خبرو

د هغوی د سپکاوي له وېرې هېڅکله غلی پاتې شوی
نه یم

او نه پاتې شوی یم دننه کور کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۵ ایا څوک به نه اوري زما خبرې؟

خورمه قسم چې دي رښتیا زما خبرې

پرېږده چې راکړي ځواب زما مطلق قادر

لیکل شوي وای کاشکې هغه تورونه چې لګولي په ما

مخالف زما ترخو لیدلي وای ما

۳۶ ما به په ویاړ سره وای ایښي په خپلو اوږو

او په خپل سر باندې به ایښي مې وای لکه د تاج په شان

۳۷ ما چې کړی دی هر کار خدای ته ویلی به وای ما

او زه به ولاړ وای د هغه حضور کې په سرلوړی سره

۳۸ که مې غلا کړې وي هغه ځمکه چې کرمه یې زه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او اخیستې مې وي د هغې له اصلي خاوندانو څخه

۳۹ که مې غلا کړي وي هغه خواړه چې تولید شوي هلته

او ورږي پرېښي مې وي هغه بزګران چې يې کرلي هغه

۴۰ نو بیا دې شنه شي په کې اغزي د غنمو په ځای

او هرزه بوټي د اوربشو په ځای

د ایوب خبرې پای ته ورسېدې.

## د الیهو وینا

## (۳۲:۱ – ۳۷:۲۴)

## الیهو د ایوب د ملګرو څخه خفه دی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ په دې خاطر چې ايوب په خپلې بېګناهۍ باندې ډاډه ؤ، نو هغو درېو کسانو د ځواب ورکولو څخه ډډه وکړه. ٢ خو د اليهو په نوم يو سړی چې هلته ولاړ ؤ، په قهر شو ځکه چې ايوب خپل ځان حق په جانب ګاڼه او خدای يې ملامت کاوه. اليهو د برکييل زوی ؤ چې د بوز د اولادې او د رام د طايفې څخه ؤ. ٣ هغه د ايوب په درېو ملګرو باندې هم په قهر شو، ځکه چې هغوی هېڅ ځواب ونه موند او بيا يې هم د ايوب غندنه کوله. ٤ اليهو تر هغه وخته پورې صبر وکړ ترڅو هر يو تن خپلې خبرې پای ته ورسولې، ځکه چې هغه هلته تر ټولو کشر ؤ. ٥ خو کله چې هغه وليدل چې هغه درې سړي د ايوب ځواب نه شي ورکولای، نو هغه په قهر شو، ٦ خپلې خبرې يې پيل کړې او ويې ويل:

زه يمه ځوان او تاسو يئ سپينږيري

نو وېرېدمه چې خپل نظر شريک کړم تاسو سره

٧ ما د ځانه سره وويل چې وکړئ خبرې بايد تاسې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

باید شریک کړئ خپل حکمت تاسو مشران

٨ خو دا روح چې په انسان کې دی

یعني ساه د مطلق قادر

چې راځي او ورکوي حکمت انسان ته

٩ يوازې مشران نه وي هوښيار

او نه پوهيږي سپين ږيري چې څه سم دي

١٠ نو زه وايمه چې غوږ ونيسئ ما ته

او ما پرېږدئ چې درته خپله نظريه ووايم

١١ ما په صبر سره ونيوه غوږ ستاسو خبرو ته

په داسې حال کې چې غوښتل مو چې کوم څه ووايئ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ ما په غور سره پام وکړ ستاسو خبرو ته

خو څوک نه ؤ چې غلط ثابت کړي ایوب

تاسو کې هېڅوک ونه شو ویلی د هغه د خبرو ځواب

۱۳ څنګه ویلی شئ چې کشف کړی مو حکمت دی؟

یوازې خدای ویلی شي ځواب د ایوب، نه شي ویلی انسان

۱۴ کړلې خبرې ایوب تاسو سره ما سره یې نه کولې

خو زه به هېڅکله ورنه کړم ځواب ستاسو په شان

۱۵ ایوبه، په خبرو کې ناکام شول ستا ملګري

ورسره نشته ستا ځواب

۱۶ کله چې غلي وي دوی ایا زه وکړم انتظار؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی ولاړ دي هلته او ورسره نشته د ویلو نور څه

١٧ نه، ورکوم به زه اوس خپل ځواب

او درته وایم به چې څه فکر کوم زه

١٨ زه خبرې کوم پاتې کېدلی نه شم غلی

نه شم ساتلی زه خبرې زړه کې

١٩ که ترلاسه نه کړم د خبرو فرصت

وبه چاودېږم لکه ژی چې وي ډک نویو شرابو څخه

٢٠ باید خبرې وکړم چې شم آرام

یمه مجبوره چې ایوب ته زه ځواب ورکړم

٢١ طرفداري به زه ونه کړم د چا په دغه بحث کې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نه به هم زه وکړم د هېڅا چاپلوسي

٢٢ ځکه زه چاپلوسي نه کوم

خدای به زر راکړي سزا که زه دا کار وکړم

## د اليهو دليلونه د ايوب په وړاندې

١ اوس ايوبه واوره وينا زما

ونيسه غوږ ټولو خبرو ته زما

٢ اوس زه خوله خلاصوم

اوس خبرو ته تيار يمه زه

٣ ټولې خبرې مې دي ډکې له رښتيا

د زړه له اخلاصه غړيږي شونډې زما


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۴ زه پيدا کړم د خدای روح

او ما ته راکړ ژوند د قادر مطلق ساه

۵ که ته کولای شې راکړه زما ځواب

تيار کړه خپل بحثونه او وکړه د ځان دفاع

۶ د خدای نظر کې زه او ته يو يوشان

دواړه جوړ شوي يو له خاورې ښخه

۷ نو ته سره نشته دليل چې ووېرېږې له ما

زه به په تا باندې زور نه راولم

۸ بې له شکه تا خبرې کړې زما په مخکې

او ما واورېدلې ټولې خبرې ستا


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۹ ته وايې چې زه يمه نېک او نه مې کړې بدي

او زه يمه پاک او بې ګناه يمه زه

۱۰ خو په ما باندې حملې دپاره خدای بهانې لټوي

او کوي چلند راسره لکه دښمن په شان

۱۱ هغه مې اچوي په پښو کې زنځيرونه

کوي څارنه زما د هر قدم

۱۲ خو زه درته وايمه ايوبه چې په غلطه يې ته

ځکه خدای لوی دی د هر انسان نه

۱۳ ولې په خدای باندې ته لګوې داسې تورونه

چې هيڅ نه اوري شکايتونه ستا؟


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ که څه هم خبرې کوي خدای بیا بیا

هېڅوک نه کوي پام د هغه خبرو ته

۱۵ کله چې خلک په ژور خوب ویده کیږي شپه کې

خدای کړي خبرې په خوبونو او رویاګانو کې

۱۶ خدای اوري په هغوی باندې خپلې خبرې

او وېروي هغوی په اخطارونو باندې

۱۷ خدای خبرې کوي چې هغوی واړوي

له خپلو ګناهونو څخه

او چې وژغوري هغوی له مغرورتیا څخه

۱۸ پرې به نږدي خدای چې له منځه لاړ شي هغوی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه په خپله يې له مرګه ژغوري

۱۹ اصلاح کوي خلک خدای په ناروغۍ

او د هډوکو په دوامداره درد

۲۰ ترڅو چې ورکړي خپله اشتها له لاسه

او وي بېزاره د ډېرو ښو خوړو نه

۲۱ هغوی به دومره شي ډنګر

چې هډوکي به يې ښکاري ټول

۲۲ هغوی نژدې دي چې لاړ شي د مړو دنيا ته

او فرښتې د مرګ کړي انتظار د هغوی

۲۳ خو که د زرګونو فرښتو څخه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

راشي يوه فرښته د هغوی مرستې ته

وي به بس چې ورته وښايي سمه لاره

۲۴ وبه وايي فرښته په رحم سره چې

هغوی وژغورئ چې نه ځي د مړو دنيا ته

دا ده د ژوند بيه د هغوی چې کړي ازاد هغوی

۲۵ پر ېږده چې ځوان شي

او قوي شي بدنونه د دوی

۲۶ کله چې وکاندي دعا هغوی خدای به يې کړي قبوله

هغوی به وکړي عبادت د خدای په خوشحالی سره

خدای به بيا تا وګڼي نېک او عادل


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٢٧ په ډاګه وايي به هر يو چې ما ګناه کړې ده

او ما ته يې رانه کړه سزا چې يې لايق ومه زه

٢٨ هغه د مړو دنيا ته له تګ نه وساتلم

او زه ژوندی يمه تراوسه پورې

٢٩ خدای کوي دا ټول کارونه

بيا بيا د انسان دپاره

٣٠ هغه ژغوري د انسان ژوند د مړو دنيا نه

او ورکوي ورته د ژوند خوشحالي

٣١ اوس ای ايوبه، ونيسه غوږ زما خبرو ته

ما پرېږده چې خبرې وکړم او غلی شه ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۲ خو که د ویلو دپاره ته څه لرې، پرېږده چې واورم هغه

په خوښۍ سره به وکړم دا اقرار چې ته یې نېک او
عادل

۳۳ که نه، نو غلی شه او ونیسه غوږ ما ته

چې درزده کړمه حکمت تا ته

## د عدالت په هکله د الیهو خبرې

۱ بیا الیهو خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

۲ خپل په فکر تاسو ډېر یئ هوښیار سړي

ونیسئ غوږ اوس چې څه وایمه زه

۳ لکه څنګه چې پوهیږي خوله د ښو خوړو په خوند


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او پېژني غوږونه پوهې خبرې

۴ نو راځئ څه چې وي سم هغه کړو غوره

او چې وکړو په خپل منځ کې پرېکړه

د ایوب د دعوې په هکله

۵ ایوب وایي چې بېګناه یمه زه

او ما سره نه کوي انصاف خدای

۶ که څه هم زه یم په حقه، خو دوی ته یمه دروغجن

دي ټپونه زما ناعلاجه خو بېګناه یمه زه

۷ ایا داسې څوک شته لکه ایوب په شان

چې ملنډې وهي نورو باندې؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ خوښوي د بدو خلکو ملګرتيا هغه

او ګرځي ګناهکارانو سره

۹ هغه وايي چې دا نه لري هيڅ ګټه

چې ترلاسه کړو رضا د خدای

۱۰ ما ته غوږ شئ ای تاسو پوهو خلکو

ايا مطلق قادر به وکړي بد يا غلط کار؟

۱۱ ورکوي خلکو ته هغه د خپلو کړو وړو اجر

او چې څنګه يې لايق وي کړي چلند ورسره هماغه شان

۱۲ بې له شکه بدي نه کوي خدای

مطلق قادر نه کوي بې‌انصافي چا سره


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ ایا قدرت ترلاسه کړی له بل چا نه هغه؟

ایا بل چا وټاکه هغه مسوول د نړی؟

۱۴ که خدای وکړي اراده

چې واخلي خپل روح او د ژوند ساه بېرته

۱۵ نو بیا به مړه شي ټول انسانان

او شي به بدل هغوی په خاورو باندې

۱۶ اوس واوره که عقلمن یې ته

ما ته غوږ ونیسه چې درته څه وایم زه

۱۷ که خدای کرکه له انصاف نه کوي

نو بیا څنګه کولای شي حکومت هغه؟


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ايا محکوموئ هغه چې دی عادل او قوي؟

۱۸ ځکه هغه دی چې غندنه کوي

د بېکاره پاچاهانو او بدکاره مشرانو

۱۹ نه کوي طرفداري د حاکمانو هغه

نه ګڼي غوره شتمن له غريبانو څخه

ځکه پيدا کړی هر يو تن دی هغه

۲۰ کېدای شي مړه شي هغوی ناڅاپه شپه کې

خدای وهي هغوی او هلاکيږي هغوی

زورور خلک به شي لرې خو د انسان په لاس نه

۲۱ هغه ساتي انسان د خپلې څارنې لاندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او په هر قدم کې دی تر نظر لاندې هغه

٢٢ هيڅ نښته داسې توره تياره

چې کړي پټ ګناهکار له خدايه

٢٣ اړتيا نه لري خدای چې وخت وټاکي يو کس دپاره

چې لاړ شي او هغه وکړي قضاوت وړباندې

٢٤ هغه ته نښته د څېړنې اړتيا

چې کړي لېرې مشران

او وټاکي نور خلک د هغوی په ځای

٢٥ ځکه خبر دی هغه له کړو وړو د هغوی

لېرې کوي هغوی او تباه کوي يې شپه کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ ورکوي سزا هغوی ته په خاطر د بدو کارو

په داسې ځای کې چې ټول يې ويني

۲۷ ځکه پرېښې ده هغوی پيروي د هغه

او له نظره يې غورځولي ټول حکمونه د هغه

۲۸ مجبورول دوی غريبان چې وکړي خدای ته فريادونه

او مرستې دپاره اورېدل يې فريادونه د دوی

۲۹ که خدای وکړي دغه پرېکړه چې خاموش پاتې شي

نو څوک کولای شي چې وکړي اعتراض ورباندې؟

که هغه پټ کړي خپل مخ نو څوک يې شي ليدلی

که هغه وي يو کس يا وي يو قوم؟


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۳۰ قومونه نه به شي کولای هېڅ کار چې ونیسي مخه

د بې‌دینه خلکو چې ونه کړي حکومت وربانديې

۳۱ ایوبه، ایا تا کړی خدای ته اقرار د ګناهونو خپلو؟

او وعده دې کړې چې بیا به نه کړې ګناهونه؟

۳۲ ایا تا غوښتي دي له خدایه چې درښکاره کړي ګناهونه ستا؟

ایا منلې دي ده دا خبره چې بس کوې به بد کارونه؟

۳۳ ته چې کوې اعتراضونه په کارونو د خدای

ته کولای شې ترې تمه چې کارونه ستا د خوښې
وکړي؟

ستا په لاس کې ده دا پرېکړه، نه ده زما په لاس کې

اوس مونږ ته ووایه ته چې څه فکرونه کوې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۳۴ په یقین سره به ومني هر باشعوره سړی دا خبره

او هوښیاران چې اوري زما خبرې کوي به دا خبره

۳۵ چې ایوب کړي د جهالت خبرې

هیڅ معنی نه لري د هغه خبرې

۳۶ ایوبه، ته مستحق یې د لویې سزا

ځکه چې تا وکړې خبرې د بدکاره په شان

۳۷ په یاغیتوب سره ته خپله ګناه ډېروې

تا دی کړی سپکاوی د خدای زمونږ حضور کې

## الیهو د ایوب غرور محکوموي

۱ بیا الیهو خپلو خبرو ته دوام ورکړ:


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ دا سمه نه ده ستا دپاره ای ایوبه چې ته ووایې

چې نېک او عادل یم زه د خدای نظر کې

٣ یا وکړې پوښتنه ته له خدایه

چې څه زیان رسوي زما ګناه تا ته؟

په نه کولو د ګناه مې ترلاسه کړي څه دي؟

٤ زه درکوم تا ته ځواب

او ستا ملګرو ته هم

٥ اسمان ته وګوره او ووینه

هغه ورېځې چې دي لوړې ستا نه

٦ که ته وکړې ګناه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ایا دا خدای ته رسوي کوم زیان؟

که ته وکړې ډېر ډېر ځلې بد کارونه

ایا وبه کړي په هغه باندې اغېزه؟

٧ ایا په نېکۍ کولو خدای سره مرسته کوې

یا څه به ترلاسه کړي هغه ستا نه؟

٨ نه، یوازې خلکو ته تکلیف رسوي ستا ګناهونه

او ستا نېک کارونه کوي ورسره مرسته

٩ کله چې خلکو باندې کېږي تېری هغوی زګېروي کوي

هغوی فریاد کوي یو چا ته چې یې وژغوري له
زورورو خلکو

١٠ خو هغوی نه کوي رجوع خدای ته چې دی خالق د هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه څوک چې پیدا کوي ورسره هیله په تیارو شپو کې

١١ هغوی نه کوي رجوع خدای ته چې ورکوي عقل

چې د انسان سره حکمت دی ډېر د حیواناتو او
مرغانو څخه

١٢ کله چې کړي فریادونه د کومک دپاره

خو ورته نه ورکوي خدای ځواب

ځکه مغرور او بدکاران دي هغوی

١٣ په حقیقت کې فریادونه د هغوی نه لري ګټه

هغوی ته نه کوي پام مطلق قادر

١٤ ایوبه، وایې ته چې زه نه شمه لیدلی خدای

خو صبر وکړه ستا دعوه ده د هغه په مخکې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ ته وایې چې خدای نه ورکوي چا ته سزا

او هغه کوي ګناه ته لږ پام

۱۶ ای ایوبه ته کوې خوشې خبرې

خبرې کوې لکه ناپوهه په شان

## د خدای د لویی ستاینه

۱ بیا الیهو خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

۲ لږه وکړه حوصله او زه به وکړم لارښوونه تا ته

زه به نور څه هم ووایم د خدای له خوا نه تا ته

۳ زه به واخلمه کار له خپلې زیاتې پوهې

چې ښکاره کړمه دا چې عادل دی خالق زما


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ څه چې وایمه زه تا ته غلطي نشته هغه کې

څوک چې ولاړ دی ستا په مخکې

ډېر پوه سړی دی هغه

۵ څومره قوي دی خدای

هغه نه ګوري هېچا ته په سپکه سترګه

داسې شی نشته چې هغه وربانديې نه پوهېږي

۶ ژوندي نه پرېږدي هغه ګناهکاران

خو د غریبانو سره کوي چلند عادلانه

۷ ساتي نظر هغه نېکانو باندې

هغوی پرېږدي چې وکړي حکومت د پاچاهانو په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او وربخښي ورته عزت د تل دپاره

٨ خو که بنديان شي هغوی په زنځيرونو کې

چې شي راګېر د مصيبت په جال کې

٩ نو ښکاره کوي ورته دليل خدای

ښکاره کوي يې ګناهونه ورته چې يې کوي په غرور

١٠ خلاصوي د هغوی غوږونه چې يې واوري لارښوونې

او ورکوي حکم چې وګرځي له بدې لارې څخه

١١ که هغوی وکړي اطاعت او خدمت د خدای

نو د هغوی ژوند به پای ته ورسيږي

په سوله او نېکمرغۍ کې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ خو که نه، نو هغوی به ووژل شي
او مړه به شي په جهالت کې
۱۳ هغه خلک په قهریږي څوک چې دي بې‌دینه
د سزا په وخت هم نه کوي د مرستې دعاګانې
۱۴ هغوی مړه کیږي په ځوانۍ کې
او ژوند یې پای ته رسي په فحاشۍ کې
۱۵ خو خدای چې خلکو ته سبق ورکوي
نو راولي وربانديې ستونزې
او کار اخلي له سختیو چې یې خلاصې کاندي سترګې
۱۶ له تکلیف نه خدای راوویستلې ته


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او هغه پرېښودلې چې خوند واخلي له امن څخه
ډک له خوړو ۀ دسترخوان ستا
۱۷ ته د بدکارانو د قضاوت په هکله فکر کوې
خو تا سره وبه شي قضاوت د انصاف له مخې
۱۸ کوه پام چې دې ونه غولوي رشوت خواره خلک
نه دې تا کاندي بې‌لارې شتمني
۱۹ وبه نه رسوي تا ته ګټه ستا د مرستې فرياد
ستا ټول قوت به تا ته هېڅ مرسته ونه رسوي
۲۰ ارمان مه کوه د شپې د راتلو
دا هغه وخت دی چې هلاک به شي قومونه په کې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢١ پام کوه چې پورې نه کړې لاس بدو کارونو باندې

ستونزه ځکه په تا راغله

چې ودې ساتې له بدیو څخه

٢٢ یاد لره چې څومره لوی دی قدرت د خدای

هغه استاذ دی تر ټولو لوی

٢٣ نه شي کولای هېڅوک چې زده کړي خدای ته کار

نه لګولی شي څوک تور وربانديې د کوم بد کار

٢٤ خپلو کارونو په خاطر یې تل ستاینه شوې

باید ته هم وکړې د هغه ستاینه

٢٥ هرچا لیدلي د هغه کارونه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو یوازې لېرې ځایونو ځخه

٢۶ مونږ درک کولای نه شو په پوره توګه لويي د هغه

شمېرلی نه شو مونږ د ژوند کلونه د هغه

٢٧ راوباسي خدای د ځمکې نه اوبه

او بدلوي هغه په څاڅکو د باران

٢٨ اوروي هغه باران له ورېځو

په پرېمانۍ سره په ټولو انسانانو باندې

٢٩ څوک نه پوهېږي چې کړي ورېځې حرکت څنګه

یا د اسمان نه چې تخت دی د خدای څنګه غورېږي
تندر

٣٠ ټول اسمان ته ورکوي هغه رڼا د برېښنا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو پاتې کيږي د درياب ژور ځايونه تياره

٣١ داسې کارونو سره ماړه کوي خدای خلک

او وررسوي ورته پرېمانه خواړه

٣٢ هغه نيسي خپل لاسونو کې برېښنا

او کوي حکم ورته چې وولي نښه

٣٣ تندر کوي اعلان د توفان د راتګ

هم خبريږي پادې د هغه له راتګ

## د نړۍ په طبعيت کې د خدای لويي

د اليهو د خبرو دوام

١ زما زړه ډېر لړزوي توفان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغه وهي ټوپونه

٢ تاسو ټول غوږ ونیسئ غږ ته د خدای

چې راوځي د هغه د خولې نه

ونیسئ غوږ هغه غرهار ته

٣ ټول اسمان ته هغه لیږي برېښنا

د ځمکې یو سر نه تر بله سره

٤ بیا راشي تندر کې غرهار د هغه د اواز

اواز د شان او شوکت د هغه

او په همدې وخت کې پړکیږي برېښنا

٥ عجیبه غږ د خدای اوربدل کیږي په تندر سره


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه کوي لوی کارونه چې مونږ پرې نه شو پوهېدلې

۶ هغه واورې ته کړي حکم چې وورېږي په ځمکه باندې

او اوروي ډېر سخت باران هغه په ځمکه باندې

۷ نو ودروي د خلکو کارونه هغه

ترڅو ټول خلک ووینې د هغه کار

۸ پټوي خپل ځانونه وحشي حیوانات

او پاتې کیږي په غارونو کې هغوی

۹ له جنوب نه توفانونه راځي

او له شمال څخه راځي سخته یخني

۱۰ د خدای ساه جوړوي یخ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او بدلوي اوبه په کلک يخ باندې

١١ تورې ورېځې ډکوي هغه له نم نه

برېښنا پړکيږي له ورېځو څخه

١٢ هغه تاويږي راتاويږي د خدای په حکم

پوره کوي ټول حکمونه د هغه ټوله دنيا کې

١٣ خدای اوروي باران په ځمکه باندې

ترڅو ورکړي سزا خلکو ته

يا وښايي تلپاتې مينه خپله

١٤ ای ايوبه غلی شه ته يوه شېبه او ونيسه غوږ

ښه فکر وکړه ته د خدای په عجيبه کارونو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ ایا پوهېږې چې خدای څنګه کوي حکم؟

او پړکوي برېښنا له ورېځو څنګه؟

۱۶ ایا پوهېږې چې وي رواني څنګه اسمان کې ورېځې

دا دي د هغه عجیبه کارونه چې لري کامله پوهه؟

۱۷ نه، یوازې سوځې ته ګرمۍ نه خپلو کالیو کې

او پاتې کېږي هر څه په خپل ځای باندې

کله چې ودرېږي باد د جنوب

۱۸ ایا کولای شې د خدای په شان چې وغزوې اسمان

او جوړ کړې هغه د ځلېدونکې فلز په شان؟

۱۹ نو مونږ ته رازده کړه یو څه چې ویې وایو خدای ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

که ته فکر کوې چې دي خالي زمونږ ذهنونه

او ویلو ته څه نه لرو مونږ

٢٠ زه به ونه غواړم چې وکړمه د خدای سره خبرې

ولې ورکړمه موقع هغه ته چې مې تباه کړي؟

٢١ کولای نه شو چې لمر ته وګورو مونږ

څکه ځلیږي دومره رڼا اسمان کې

کله چې پاک کړي باد اسمان له وریځو

٢٢ په همدې ډول د خدای هیبتناکه جلال ته

چې ځلیږي د شمال نه د ټول شان او شوکت سره

نه شو کولای چې مونږ وګورو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ ورتللی نه شو نژدې قادر مطلق خدای ته

نېک او ډېر عادل دی هغه او ظلم نه کوي په مونږ
باندې

۲۴ نو بیا نه ده د حیرانتیا خبره

چې له خدای نهووېرېږي خلک

ځکه څوک چې دعوه کړي د حکمت

نو له نظره غورځوي هغه خلک

## د ښبتن ځواب

## (۳۸:۱ – ۴۱:۳۴)

## په طبعیت باندې د ښبتن اختیار


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱ بیا څښتن د توفان له منځ نه د ایوب سره خبرې وکړې او
ویې ویل:

۲ په خپلو جاهلو او بې‌معنی خبرو

ته یې څوک چې پوښتنې کړې زما د حکمت؟

۳ اوس تیار شه لکه نر زما په وړاندې

زه به پوښتنې کوم او ته به ځواب راکوې

۴ ایا دلته وې ته کله چې ما کړله پیدا نړۍ؟

که ته پوهیږې دومره نو راته ووایه

۵ چا وټاکه پراخوالی د هغې او چا اندازه کړ هغه؟

ایا پوهیږې ته په هر څه باندې؟

۶ په څه ولاړې هغه ستنې دي چې ټینګوي ځمکه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېښنوده چا د ځمکې د تهداب تيږه

٧ چې سهار کله ويلې ستورو سندرې يو ځای

او فرښتو وهلې د خوشحالۍ چيغې؟

٨ چا کړلې بندې دروازې د بحر

چې کله هغه راووت ځمکې له تل نه؟

٩ دا زه وم چې مې پټ کړ بحر وريځو کې

او توره تيارې کې مې کړ پټ هغه

١٠ ما وټاکله پوله بحر دپاره

او ما پرېښنوده چې واوړي له حده

١١ وويل بحر ته ما



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې مخکې لاړ نه شې د دې ځای څخه

او ودرېږې دلته باید قوي څپې ستا

۱۲ ایا په خپل ټول ژوند کې تا

کړی حکم دی سهار ته چې رابښکاره شي

یا سباوون ته چې پیل کړي نوې ورځ؟

۱۳ ایا کله ویلي دي سهار ته تا چې شي خپور

په ټوله ځمکه باندې

چې پای ته ورسوي بدکاري د شپې؟

۱۴ رڼا د ورځې ښکاره کوي غونډۍ او درې

د کمیس د ګونځو په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

یا په ختهو ولګیږي د یو نقش په شان

۱۵ رڼا مخه نیسي د بدکارانو

او نه پرېږدي لاس د هغوی

چې زورزیاتی وکړي

۱۶ ایا تللی یې ته د بحیرې چینو ته؟

یا ګرځېدلی یې ته د بحر تل کې؟

۱۷ ایا تا ته ښکاره شوې دروازه د مړو د دنیا

یا لیدلې دي تا د تورو تیارو دروازې؟

۱۸ ایا پوهیږې چې نړۍ ده څومره پراخه؟

که ته پوهیږې نو ځواب راکړه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٩ ايا پوهېږې چې رڼا راځي له کومه ځايه

او ده چېرته د تيارې سرچينه؟

٢٠ ايا ته وړلی شې هغه خپلو ځايونو ته؟

ايا تا ته معلوم دي د هغو کورونه؟

٢١ يقين لرم چې ته په هر څه پوهېږې

ځکه ستا عمر دی ډېر زيات

او ته وې دلته چې پيدا شوه کله دا نړۍ

٢٢ ايا د واورې ذخيرې ته ننوتی يې ته

يا تا ليدلې ذخيرې دږلی؟

٢٣ ما دا ساتلې دي د وخت د تکليفو دپاره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې مرسته وکړي د جنګ په ورځ زما د خلکو سره

۲۴ راځي رڼا د برېښنا له کومه ځایه څخه

یا راځي د ختیځ تود باد له کومه ځایه څخه؟

۲۵ چا وکینده لښتي د سخت باران دپاره؟

او لار یې صفا کړه د تندر د برېښنا دپاره؟

۲۶ څوک اوروي باران په شاړه ځمکه باندې

په هغې دښتې باندې چې په کې نه اوسیږي څوک؟

۲۷ څوک ورکوي اوبه ورانې او ویجاړې ځمکې ته

ترڅو راشنه شي واښه په کې؟

۲۸ ایا باران لري پلار؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چا پیدا کړي پرخه؟

۲۹ څوک ده مور د یخ؟

څوک راوړي واوره دې دنیا ته له اسمانه څخه

۳۰ چې بدلوي اوبه په تیږه باندې

او مخ د بحر بدلوي یخ باندې؟

۳۱ ایا تړلی شې ته د ثریا ستوري یو د بله سره؟

یا پرانیستی شې هغه تار چې پرې تړلی یې جبار دی؟

۳۲ ایا کولای شې ته چې هر موسم کې

ستورو ته وکړې لارښوونه؟

او لارښوونه وکړې ته د شمال د ستورو ډلې ته؟


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۳۳ ایا خبر یې ته له هغو قوانینو چې چلیږي اسمانونو کې؟

ایا کولای شې ته چې عملي کړې هغه په ځمکه
باندې؟

۳۴ ایا کولای شې چې چیغې ووهې ته وریځو ته

چې تا لوند خیشت کړي په باران باندې؟

۳۵ او که ته وکړې برېښنا ته امر چې وپړکیږي

ایا رابه شي تا ته هغه او درته وبه وایي

چې ستا په خدمت کې یم زه؟

۳۶ څوک دی چې ورزده کړي مرغانو ته دا

چې راروان دي باران او سېلابونه؟

۳۷ څوک لري دومره حکمت چې وشمېري وریځې؟


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

څوک کولای شي چې توی کړي اوبه له اسماني منګي

۳۸ کله باران بدلوي خاوره په لوټو باندې؟

۳۹ ایا کولای شې ته ښکار د زمري دپاره

او مړوې ګېډې د زمریو د بچیانو

۴۰ چې پټیږي کله په خپلو سمڅو کې

یا په بوټو کې پراته وي په کمین کې؟

۴۱ څوک دی چې ورسوي کارغانو ته خواړه

کله چې کړي د هغوی بچیان فریادونه ما ته د خوړو دپاره

ځکه چې وږي سرګردانه ګرځي؟

# په ځنګلي حیواناتو او الوتونکو باندې د څښتن واک


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

د ښېښتن د خبرو دوام

١ ایا پوهېږې ته ایوبه چې غرنۍ وزې کله بچیان زېږوي؟

ایا لیدلي دي تا په خپلو سترګو چې هوسۍ څنګه
بچیان زېږوي؟

٢ ایا پوهېږې ته چې ګرځوي څو میاشتې

هغوی په ګېډه کې بچیان خپل؟

ایا پوهېږې چې راځي کله د هغوی د زېږېدلو وخت؟

٣ ایا پوهېږې کله به راشي د هغوی د زېږولو درد

او کله راوړي دنیا ته خپل بچیان؟

٤ په صحرا کې د هغوی بچیان قوي کېږي

او بېلېږي مور نه او نه راځي بېرته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٥ چا ازاد کړل وحشي خره؟

چا پرانیستلې رسۍګانې د هغوی؟

٦ ما ورکړه دښته ورته چې شي کور د هغوی

او پرې مې ښودل چې واوسیږي په ښوره زار ځایو کې

٧ لېرې ګرځي هغوی د ښارونو له شورماشوره څخه

او نه به لرې هېڅ خاوند چې چیغې ووهي هغوی باندې

٨ غرونه دي هغه څرځایونه چې کوي په کې خوراک هغوی

چې لټوي په کې هر یو شین بوټی د خوراک دپاره

٩ ایا وبه کړي کار وحشي غویی د ستا دپاره؟


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ايا شپه به کړي تېره ستا په غوجل کې؟

١٠ ايا ته تړلی شې هغه په رسۍ باندې

چې بيا وکړې قلبه ورباندې؟

يا کش کړې په پټيو کې ماله ورباندې؟

١١ ايا کولای شې تکيه په لوی قوت د هغه؟

او کولې شې ترې تمه چې وکړي ستا دروند کار؟

١٢ ايا کولای شې ترې تمه چې دننه راوړي ستا حاصلات؟

او کړي راټول غلې دانې درمند ځای ته ستا؟

١٣ ښومره په غرور وهي وزرونه شترمرغ

خو د لګ لګ په شان نه شي الوتلی شترمرغ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ پر پړدي په ځمکه باندې خپلې هګۍ شترمرغ

ترڅو خاورې کاندي ګرمې هګۍ د هغه

۱۵ هغه نه ده خبره چې کېدای شي د هغې هګۍ شي ترپښو لاندې

نه خبره ده هغه چې کړي به يې ماتې وحشي حيوان

۱۶ هغه داسې ګڼي چې خپلې نه دي دا هګۍ د هغې

او نه کړي پروا چې عبث به يې شي هلې ځلې

۱۷ دا زه وم چې شترمرغ مې کړ ناپوهه

او دا زه وم چې مې ور نه کړله هغه ته پوهه

۱۸ خو چې کله هغه وکړي شروع په منډو

مخکې کيږي تر ټولو نه چابک اس



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او د هغه کس نه چې وي سپورورباندې

١٩ ایا دا ته وې چې دې ورکړ

اسونو ته دومره قوت

او ورته پټه دې کړه غاړه په ویښتو باندې؟

٢٠ ایا ورکړی دا توان دی تا چې ووهي

ټوپونه د ملخانو په شان

او وویروي خلک په خپل خرهار؟

٢١ هغوی په شوق سره خپل سوم وهي په ځمکه باندې

هغوی منډې وهي جنګ کې په خپل زور باندې

٢٢ نه پوهیږي هغوی په معنی د ویرې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هېڅ توره نه شي بېرته ګرځولی هغوی

۲۳ د هغوی د سوارانو وسلې

ترنګیږي او پرکیږي لمر کې

۲۴ لړزیږي له هیجانه دا اسونه او وهي منډه جنګ ته

چې کله وغږول شي سرنی نو ارام ودرېدلی نه شي

۲۵ د سرني په غږېدو کوي هغوی خرهار

له لېرې ځایه ورته ورځي بوی د جګړې

هغوی اوري د منصبدارانو چیغې او امرونه

۲۶ ایا الوتنه زده کوي بابنه له تا

خیروي چې خپل وزرونه د جنوب خواته؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٧ ايا ستا امر ته وباسي انتظار عقاب

چې کړي جوړه خپله ځاله جګو غرونو باندې؟

٢٨ جوړوي هغه خپل کور لوړو ګټونو باندې

او هلته ژوند کوي او شپه تېروي

د تيږو په ګړنګ او کلاګانو کې

٢٩ د هغه ځای نه ځاري هغه خپل ښکار

او ويني هغه د لېرې ځای نه

٣٠ ګردچاپېره د مړو راټولېږي عقابان

او څښي يې ويني د عقابانو بچيان

## ايوب ښبنتن ته ځواب نه شي ور کولای



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ بیا ښبنتن ایوب ته ووېل:

٢ ایا ته لا اوس هم کړې جګړه مطلق قادر سره؟

ته چې اعتراض کوې په خدای ایا لرې ورته ځواب؟

٣ بیا ایوب ښبنتن ته ځواب ورکړ او ویې ویل:

٤ وکړې خبرې ما له ناپوهۍ نه ډکې

نو زه به ورکړم څه ځواب؟

په خپله خوله باندې به لاس کېږدم

٥ ما هسې هم کړي له حد نه ډېرې خبرې

د ویلو دپاره نور څه نه لرم زه

## ښبنتن یوځل بیا د ایوب نه پوښتنې کوي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ بیا ښبښتن د توفان له منځ څخه یوځل بیا د ایوب سره خبرې وکړې او ویې ویل:

۷ اوس تیار شه لکه نر زما په وړاندې

زه به پوښتنې کوم او ته به ځواب راکوې

۸ ایا ته هڅه کوې چې ما ثابت کړې بې‌انصافه

چې ملامته کړې ما او ثابت کړې خپل ځان حق په جانب؟

۹ ایا قوي یې ته لکه زما په شان؟

ایا ایستلی شې لوړ غږ لکه د تندر زما په شان؟

۱۰ که داسې وي نو کړه خپل ځان دې سینګار

په عزت او په لویۍ سره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واغونده لباس د جلال او شان او شوکت

١١ ګوره هغو خلکو ته چې دي مغروران

ورته وښايه خپل قهر او کړه هغوی عاجزان

١٢ هو، مغرورانو ته وګوره او ذليل کړه هغوی

او تر پښو لاندې کړه بدکاره خلک چېرته چې ولاړ دي

١٣ ښخ کړه ټول هغوی په خاورو کې

بند کړه هغوی د مړو دنيا کې

١٤ داسې وکړه بيا به زه هم کومه ستا ستاينه

او وبه منم چې ته کولای شې خپل ځان وژغورې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# بهیموت یو لوی او حیرانوونکی حیوان دی

۱۵ وګوره بهیموت ته

ما هغه کړ پیدا لکه څنګه چې مې ته کړې پیدا

هغه خوري واښه لکه د غويي په شان

۱۶ خو څومره قوت دی د هغه بدن کې

او څومره زور دی د هغه عضلو کې

۱۷ د هغه لکۍ ودرېږي سبر د ونې په شان

قوي عضلې دي د هغه د پښو

۱۸ د هغه هډوکي دي لکه د برنجو د نل په شان

او پښې يې دي لکه د اوسپنې سيخونو په شان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ هغه قوي دی ډېر زما د ټولو مخلوقاتو څخه

ورته ماتې ورکولای شي صرف خالق د هغه

۲۰ وابنه شنه کيږي د هغه د خوراک دپاره

هغو غونډيو باندې چې کوي لوبې په کې وحشي ځناور

۲۱ هغه پرېوځي د شنو بوټو لاندې

او د لوخو ترمنځ هغه پټيږي جبه زار کې

۲۲ د شين بوټي او د ويالې په غاړه

ولې کوي سيوری په هغه باندې

۲۳ نه وېريږي هغه د سيند له څپو

کله چې شيندل کيږي د هغه په مخ اوبه د اردن


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو پاتې کیږي هغه ارام

۲۴ څوک شي کولای چې ړوند کړي هغه او ویې نیسي؟

څوک شي کولای چې د هغه په پوزه کې کړی واچوي؟

## لوایاتان یو بحري ښامار

د ښبنتن د خبرو دوام

۱ ایا نیولی شې لوایاتان

ته د ماهي په چنګک

یا تړلی شې رسۍ باندې د هغه ژبه؟

۲ ایا اچولی شې رسۍ د هغه وربوز کې

یا اچولی شې چنګک د هغه ژامو کې؟


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۳ ایا تا ته به وکړي زارۍ چې هغه پرېږدي لاړ شي

یا تا ته به وکړي هغه رحم دپاره زارۍ؟

۴ یا هغه به وکړي تړون ستا سره

چې خدمت به کوي د تل دپاره ستا؟

۵ ایا کولای شې هغه ونیسې د یوې مرغۍ په شان

چې ستا لورګانې پرې غلط کړي خپل پام؟

۶ ایا ماهیګران به په هغه باندې چنې ووهي

یا هغه به ووېشي د سوداګرو ترمنځ؟

۷ ایا کېدای شي چې ننوځې نېزې د هغه پوستکي کې

یا سورۍ شي په چنګک داره نېزه باندې د هغه سر؟


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ که یوځل وربانديږ ووهي لاس

هېر به نه کړي دا جنګ هېڅکله

بیا به ونه وهي وربانديږ لاس هېڅکله

٩ هرڅوک چې وکړي هیله د بحیرې د ښامار د ښکار

ورکوي جرات له لاسه او په ځمکه به راپرېوځي هغه

١٠ که هغه وي ډېر خونخوار هېڅوک

به ونه کړي جرات چې هغه راوپاروي

نو څوک به وکړي جرات چې ودرېږي زما په
وړاندې؟

١١ څوک کولای شي چې وکړي مخالفت ما سره

چا راکړي دي څه ما ته چې يې ورکړم بېرته؟


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هر څه چې دي نړۍ کې هغه زما دي

۱۲ زه به ووایمه تا ته چې څومره قوي دي پښې د هغه

او څومره لوی او قوي دی بدن د هغه

۱۳ څوک ایستلی شي څرمن د هغه

یا سوری کولای شي د هغه ډبل زغر؟

۱۴ څوک کولای شي چې خلاصه کړي خوله د هغه

چې په کې دي غاښونه وېرووونکي؟

۱۵ د هغه شا ده جوړه شوې د سپرونو له قطارونو څخه

تړل شوي دي یو ځای او کلک دي د تیږو په شان

۱۶ داسې نښتی دی کلک هر یو یې یو بل پورې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هوا هم تېرېدلی نه شي د هغوی له منځه

۱۷ دومره کلک دي تړل شوي يو تر بله هغه

چې هېڅ شی يې بېلولی نه شي يو له بله

۱۸ چې پرنجيړي هغه کله نو پړکيږي ترې برېښنا

او سترګې ځليږي د هغه لمر په شان چې راخېژي
سهار

۱۹ لمبې د اور راوځي د هغه د خولې نه

پورته کيږي سپرغۍ د هغه د خولې نه

۲۰ لوګی راوځي د هغه له پوزې څخه

لکه لوګی چې راځي د خوټېدونکي دېګ نه

۲۱ د هغه نفس لګوي اور


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لمبې راوځي د هغه د خولې نه

۲۲ په ورمېږ کې د هغه دی دومره زور

چې مخامخ شي کوم څوک ورسره نو د وېرې نه رپېږي

۲۳ کمزورې برخې د هغه د بدن

دي ډېرې کلکې له اوسپنې نه

۲۴ زړه يې کلک دی لکه د تيږې په شان

سخت دی هغه د ميچنې د پل په شان

۲۵ راښکاره کيږي چې هغه کله

حتی قوي خلک هم تر ينه وېرېږي

بېرته ګرځي او تښتي له وېرې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٢۶ نشته توره داسې چې کړي زخمي هغه

نشته داسې نېزه يا غشى چې ورسوي زيان هغه ته

٢٧ هغه اوسپنه ګڼي لکه د بوسو په شان

او برنج ورته ښکاري د خوسا لرګي په شان

٢٨ هېڅ داسې غشى نشته چې کړي هغه په منډو

هغه تيرې چې ګوزارېږي پرې مچنوغزې باندې

دي د بوسو د ډکو په شان

٢٩ ښکاري هغه ته کوتک بوسو د ډکي په شان

او خاندي کله چې سړي کړي ګوزارونه د نېزو

٣٠ لري پوستکى يې د ګېډې تېرې څوکې



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ختېنو لوښو د ټوټو په شان

قلبه کوي ځمکه غوبل کولو د څپر په شان

۳۱ هغه بحر خوځوي لکه خوټېدونکي دېګ په شان

او خوځوي هغه لکه د عطرو د لوښي په شان

۳۲ د هغه شاته پاتې کيږي ځلانده کرښه

او بدلوي بحيرې په سپين ځګ باندې

۳۳ د هغه ثاني نشته د ځمکې په مخ

داسې مخلوق دی هغه چې نه وېرېږي

۳۴ هغه ته سپک ښکاري تر ټولو مغرور حيوانات

هغه پاچا دی د ټولو وحشي ځناورو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د ایوب اقرار او توبه ویستل

۱ بیا ایوب د څښتن په ځواب کې داسې وویل:

۲ زه پوهېږمه څښتنه چې ته کولای شې هر کار

او هیڅوک کولای نه شي چې وکړي مخنیوی د ارادو ستا

۳ زما نه وکړله پوښتنه تا

ته یې څوک چې پوښتنې کړې زما د حکمت؟

اوس پوه شوم هغو شیانو په هکله

چې حیرانوونکي او ډېر لوی وو

او هغو شیانو په هکله چې نه پوهېدم ورباندې

۴ تا راته وویل چې ونیسه غوږ زما خبرو ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او تا راته وویل چې زه به پوښتنې کوم

او ته به ځواب راکوې

۵ زه پوهېدم یوازې په هغه څه چې راته بل چا ویلې

خو اوس مې لیدلی یې ته په خپلو سترګو

۶ نو په دې سبب زه خجالت وباسم په ټولو خبرو خپلو

او توبه وباسم په خاورو او ایرو کې زه

## د ایوب ملګري رټل کیږي

۷ وروسته له دې چې څښتن د ایوب سره خپلې خبرې پای ته
ورسولې، هغه الیفاز ته وویل: «زه په تا او ستا په دوو ملګرو یعنې
بلدد او صوفر باندې په قهر یم، ځکه چې تاسو زما د خدمتګار
ایوب په شان زما په هکله ربښتیا ونه ویل. ۸ اوس اووه غویان او
اووه پسونه واخلئ او ایوب ته ورشئ او د خپلو ځانونو دپاره یې د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سوځېدونکې قرباني په توګه وړاندې کړئ. ایوب به ستاسو دپاره
دعا وکړي او زه به د هغه دعا قبوله کړم او ستاسو ناپوهي به
وبخښم. تاسو د هغه په شان زما په هکله رښتیا ونه ویل.» ۹ نو
الیفاز، بلدد او صوفر د ښښتن خبره په ځای کړه او ښښتن د ایوب
دعا قبوله کړه.

## ایوب بېرته خپل پخواني حالت ته راګرځي

۱۰ بیا وروسته له دې چې ایوب د خپلو دریو ملګرو دپاره دعا
وکړه، ښښتن هغه بیا نېکمرغه کړ او د مخکې په پرتله یې دوه چنده
شتمني ورکړه. ۱۱ د ایوب ټول ورونه، خویندې او پخواني ملګري د
هغه لیدلو ته راغلل او د هغه سره یې د هغه په کور کې مېله جوړه
کړه. هغوی ورسره خپله خواخوږي ښکاره کړه او د هغو ټولو
تکلیفونو په خاطر یې چې ښښتن ورباندې راوستلي وو، هغه ته
تسلي ورکړه. د هغوی څخه هر یو تن څه نا څه پیسې او یوه یوه د
سرو زرو ګوته هغه ته ورکړه.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ ښځینه ترکیب کیوولی د ایوب د ژوند د لومړیو ورځو په پرتله په وروستنیو
ورځو کې ډېر برکت واچاوه. ایوب د څوارلس زره پسونه، شپږ
زره اوښان، زر جوړه غوایان او د زرو خرو خاوند شو. ۱۳ هغه اوه
زامن او درې لورګانې لرلې. ۱۴ هغه په خپلې مشرې لور باندې
یمیمه، په دوهمې باندې قصیعه او کشرې لور باندې قرن‌هفوک نوم
کېښود. ۱۵ په ټوله نړۍ کې د ایوب د لورګانو په شان ښایسته
نجونې نه وې. ایوب هغوی ته هم د هغوی د ورونو په شان په
میراث کې برخه ورکړه.

۱۶ له هغې وروسته ایوب یو سل او څلوېښت کاله نور هم عمر
وکړ او خپل لمسي او کړوسیان یې هم ولیدل. ۱۷ او بیا هغه په ډېر
پوخ عمر کې مړ شو.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳